اوبۀ او انرژي

د شورابک بند

۲۳

د اوبو او انرژي وزارت خپروونکی ارګان

ګڼه دولسم کال دروېشتمه ګڼه ، د ۱۴۰۲ هـ ش کال دوهمه ربع (سرطان، اسد، سنبله) چې د ۱۴۴۵ هـ ق کال سره سمون لري

موږ په خپل ټول وس او توان د اوبو سرچینو مدیریت‌اود برېښنا تولید ته ژمن یو، چې په ټول هېواد کې به د خپل مؤمن ولس د اقتصاد د پیاوړتیا لپاره نه ستړې کېدونکې هلې ځلې تر سره کړو، موږ د دغو ستونزو په پام کې نیولو سره د اوبو او انرژي په سکتورونو کې د ښه مدیریت او لازمو هلو ځلو په برکت ګټورې برنامې هم تنظیم کړې دي، د اسلامي امارت سیاسي ارادې او له پانګونې څخه ټینګ ملاتړ، پانګه اچوونکو ته تر بل هر وخت مناسب فرصت برابر کړی دی، تر څو راشي او په خوندي توګه د افغانستان د اوبو او انرژي په سکتورونو کې پانګونه تر سره کړي، چې دا چارې به هم پانګوال او هم د افغان ولس لپاره خورا پایښت لرونکې اقتصادي ګټې ولري، پر نړیوالو هم غږ کوو، چې د افغانانو تر څنګ ودریږي، او دلته د اوبو او برېښنا په برخه کې سرمایه ګذاري وکړي، اسلامي امارت په دغه لار کې پوره همکاري ته تیار دی، چې زموږ د ستراتیژیکو موخو بنسټ د عامه او خصوصي سکتور د ګډون پیاوړتیا لپاره د یادو سکتورونو د مشارکت او پانګونې څخه ملاتړ اعلان او برنامې له تاسو درنو ملي او نړیوالو پانګوالو سره شریکې کړو، زموږ ستراتیژیکې موخې د اوبو او انرژي په سکتورونو کې ملیاردو ډالرو په ارزښت ده، چې په دې سره به په میلیونونو جریبه ځمکه خړوبه، په ملیاردوو متر مکعبه اوبه زېرمه او په زرګونه میګاواټه برېښنا تولید شي.

الحاج ملا عبداللطیف منصور

د اوبو او انرژي سرپرست وزیر

د دې ګڼې په پاڼو کې

سـرمقاله ---------- 2

تفاهمنامه همکاری میان وزارت آب و انرژی و وزارت تحصیلات عالی به امضا رسید---------- 6

ننګرهار ولایت کې شپږ پروژې د څه باندې 109 میلیونه افغانیو په ارزښت ګټې اخیستنې ته---------- 9

پکتیا ولایت کې د اوبو لګولو دوه پروژې د نږدې دوه سوه څلوېښت زره ډالرو ---------- 10

د اوبو معینیت اونیزه تخنیکي ناسته ترسره شوه---------- 11

دمقالو برخه---------- 16- 49

A Bilateral Cooperation Agreement Was Signed Between The Ministry Of Energy And Water And S.K.M Hwaslik Aniniom Company. ----- 50

The Annual Report Of The Achievements Of The Ministry Of Energy And Water Was Presented -------- 51

The Ministries Of Energy And Water, And Industry And Commerce Held A Coordination Meeting ----- 52

A Coordination Meeting Was Held To Prepare A Plan To Prevent Water Use By Water Pumps ---------- 54

Six Projects Worth Over 109 Million Afghanis In Rodato District Of Nangarhar Province ----------56

د امتیاز خاوند: د اوبو او انرژي وزارت

مسؤول مدیر: خواجه فقیر محمد " صدیقي "

کتنپلاوی:

قاري محمد عبدالعزیز "عزیز"

الحاج غلام جیلاني "حق پرست"

انجنیر عزیزالرحمن "عزیز"

برکت الله " آریوبي"

انجنیر همت الله "امین زی"

سموونکی: بازمحمد " درمل "

ترجمان: فهیم "صمیم"

راپور تران : نعمت الله " اخلاقي" او اسدالله "ایوبی"

عکس اخستونکی: محمد حکیم "فیض"

وېشـونکی: سیدعادل "سادات"

ډیزاینر: سید مصور "سادات"

آدرس: د دارالامان عمومي سرک د اوبو او انرژي وزارت

ایمیل پته: chiefofstaff@mew.gov.af

Info@ mew.gov.af

mew.gov.af/dr

د اړیکو شمېرې: 0777917898

0773218418

درنو لوستوونکو!

د"اوبه او انرژي"وزارت مجلې او میاشتنی جریدې د سافټ موندلو لپاره کولای شئ، د دې ادارې ویب سایټ ته مراجعه وکړئ.

یادونه: د "اوبه او انرژي"فصلنامه کې چې کومې مقالې خپرېږي،په لیکوالانو پورې اړه لري؛هر لیکوال ته بویه چې د خپلې لیکنې دفاع پخپله وکړي، د مجلې د نوم په یادولو سره هر چاته د ماخذ په توګه د استفادې اجازه ده.

ســـــرمقاله

د ۱۴۰۰ هجري لمریز کال د وړي د میاشتې نهمه

د سترو او سپېڅلو ارمانونو د غوټیو د ګل کېدو، منزل ته د غازي کاروان د رسېدو، د پاکو تویې شوو وینو د هدف ترلاسه کېدو، د مظلوم او تش لاسي خو د ایمان او عقېدې په وسله او د خپلواکۍ لپاره د قربانۍ په روحیه سمبال ولس په وړاندې د نړیوال استکبار او زبېښاک د رسوا ماتې او تېښتې، د کونډو، یتیمانو، اسیرانو او مظلومانو د آه او فریاد د قبلېدو او د بشر په تاریخ کې د ۲۱ زېږدي سلیزې د معجزې د څرګندېدو ورځ ده.

کله چې د ۲۰۰۱م کال د اکتوبر د میاشتې په ۷ نېټه د صلیبي یرغلګرو نړیوال بولندوی(بُش) پر افغانستان باندې خپلو بېړېځو ته د یرغل امر وکړ، نو سرهٔ او تور، لرې او نژدې، خپل او پردي ټول ورسره ملګري شول. پر افغان مسلمان ولس باندې یې له هیڅ ډول ظلم، زور، وژلو، ترلو او شړلو څخه ډډه ونکړه، د وخت ټولې مدرنې او وژونکې وسلې یې ورباندې و آزمویلې، بې شمېره افغانان یې له خپل دین، هېواد او خپلواکۍ سره د ژورې مینې په جرم(!) شهیدان، اسیران او له خپل ټاټوبي څخه هجرت ته اړ کړل.

هو! د نړیوال زبېښاک او ښکېلاک بولندویانو پوره شل کاله ګڼ شمېر افغان مسلمان مجاهدین ووژل، ویې ترل او ویې شړل خو اېل یې نکړل، تردې چې څومره به ددوی د ظلم او زور ګراف لوړېدهٔ په همغه تناسب ورسره مقاومت هم زیاتېده، سختېدهٔ او قوې کېدهٔ او بالآخره ناټوخېل د وضعې له څېړلو او د هر ډول زر، زور او تزویر د وسلې تر آزمویلو وروسته دې پایلې ته ورسېدل چې د افغانستان د اسلامي امارت د مجاهدینو او مسلمان ملت په مقابل کې د زور تګلاره په مطلقې ناکامي محکومه ده او دوی مطلوبې موخې نه شي ترلاسه کولای خیر یې په دې کې دی چې له دغهٔ هېواد څخه پښې سپکې کړي.

هماغه وه چې د ۲۰۲۱م کال د اګست د میاشتې په ۳۱ نېټه چې د ۱۴۰۰ هجري لمریز کال د وړي د میاشتې له نهمې نېټې سره برابره وه د زرهاوو سرتېرو، وسایطو او وسایلو له لاسه ورکولو او یو تریلیون امریکایي ډالرو معادل اقتصادي زیان تر زغملو وروسته؛ وروستی امریکایي سرتېری د شپې لهٔ تیارې څخه په استفادې تیټ سر، خړې سترګې او خوړند غوږونه له افغانستان څخه وتښتېدهٔ، چې ورسره د زور، ظلم او تېري یو تور باب وتړل شو او د خپلواکۍ خلانده لمر د افغانستان پر جغرافیه باندې خپلې وړانګې خپرې کړې.

اوس راځئ دا وګورو چې ناټوخېلو ولې په افغانستان کې ماتې وخوړه او تېښتې ته اړ شول او زمونږ د ملت د بقا او خپلواکۍ بېړۍ د اور، اوښکو او وینو له سمندر څخه څنګه د نجات ساحل ته ورسېده.

زمونږ په فکر چې ناټو په سر کې یې د امریکا متحده ایالات یواځې خپل زور ته غره وو خو د افغانانو تاریخ، عقیده، فرهنګ، له خپلواکۍ سره مینه او له بلواکۍ څخه کرکه یې سم نه وو مطالعه کړې؛ او هم یې پخپلو لاسپوځو ډېر غلط حساب کړی وو. هغوی خپل تالي څټې بازان ګڼلي وو، خو خبر نه وو چې دوی بازان نهٔ، بلکه د مړزګې تېوسان دي چې تل د خپلې خېټې غم اخیستي وي.

دوهم دا چې لږی د خدای(ج) نصرت او له خپل دین، ایمان، هېواد، ولس او خپلواکي سره د افغانستان د اسلامي امارت د مجاهدینو مینه د قرباني او سربښندنې روحیه او د ولس ملاتړ هغه ټکي وو چې زمونږ ملت ته یې خپلواکۍ ور په برخه او له صلیبي اشغال څخه یې نجات ورکړ، یعني زمونږ اتلو مجاهدینو د لوی خدای(ج) په نصرت او د خپلو زرهاوو ملګرو د سرونو په قربانولو او ولسي ملاتړ سره دغه ستره سوبه ترلاسه کړه.

نو اوس د حکومت او ولس دواړو مسئولیت دی چې:

- په ډېر اخلاص یو بل ته د ملګرتیا لاسونه ورکړي.
- دواړه د هېواد په ټولو ملي مسایلو کې دخیل واوسي.
- د هېواد د خپلواکي ساتلو لپاره په ګډه هرې قربانۍ ته چمتو واوسي، ځکه د خپلواکۍ اخیستل نسبتاً آسان خو ساتل یې ګران دي.
- حکومت باید د ژوند په هر ډګر کې د ولس غوښتنې او اړتیاوې په پام کې ونیسي؛ ځکه هغه ملت خپلو لوړو موخو او ارمانونو ته رسېږي چې حکومت یې پر خپل ولس باندې تل شفقت کوي، او ولس د خپل حکومت اطاعت کوي.

د اوبو او انرژي سرپرست وزیر د یوې ناستې په ترڅ کې د وزارت یو شمېر رئیسانو او مسئولینو ته د لوی اختر مبارکي وړاندې کړه

د اختر مبارکي دغه ناسته چې د اوبو او انرژي سرپرست وزیر محترم ملا عبداللطیف منصور ، د مالیې وزارت د ګمرکونو او عوائیدو معین محترم ملا عبدالقاهر ادریس ، د افغان دارالعلوم شیخ الحدیث شیخ محمد عمر فاروقي او د وزارت یو شمیر رئیسانو او کارمندانو په ګډون دائره شوې وه.

په پیل کې د اوبو او انرژي سرپرست وزیر مېلمنو ته ښه راغلاست ووایه او ټولو ته یې د نیکمرغه لوی اختر په مناسبت مبارکي وویله.

د اوبو او انرژي سرپرست وزیر په چارو او خدمتونو کې په اخلاص، صداقت او مسئولیت منلو باندې ټینګار وکړ ؛ له ټولو کارمندانو او مسئولینو څخه یې و غوښتل چې د خپلو دندو په ترسره کولو کې د قرآن کریم د هدایاتو او اسلام د سپېڅلي دین د ارشاداتو سره سمې کړنې ترسره کړي.

د اختر مبارکی دغه ناسته مسلمانانو ته د لا زیاتو بریاوو په غوښتلو او د خیر په دعا سره پای ته ورسېده.

مقامات رهبری وزارت آب و انرژی در دیدار با رئیس شرکت ویستن انشاط به تسریع کار بند بخش آباد تاکید کرد

محترم ملا عبداللطیف منصور سرپرست وزارت آب و انرژی، محترم مجیب الرحمن عمر آخند زاده معین آب این وزارت و محترم داکتر فاروق اعظم مشاور مقام رهبری وزارت در یک دیدار با محترم جمشید شاهی رئیس شرکت ویستن انشاط در مورد وضعیت جریان کار پروژه تونل های انحرافی بند بخش آباد ولایت فراه صحبت نمودند.

در این دیدار سرپرست وزارت آب و انرژی و معین آب این وزارت به تسریع کار پروژه متذکره تاکید ورزید.

در همین حال رئیس شرکت ویستن انشاط از وضعیت جریان کار پروژه به خوبی یاد کرده اطمینان داد که کار پروژه تونل های انحرافی بند بخش آباد را سرعت خواهد داد.

د پورتني پنجشیر (بازارک) سیندیزې فرعي حوزې نوی رئیس خپلو همکارانو ته وروپېژندل شو

محترم فضل الله عادل د پورتني پنجشیر سیندیزې فرعي حوزې د نوي رئیس په توګه د یوې غونډې په ترڅ کې د کابل سیندیزې حوزې عمومي رئیس انجنیر حبیب الرحمن حقپال، د پنجشیر ولایت مرستیال والي ملا روح الله او یو شمیر نورو سیمه ییزو مسئولینو په شتون کې خپلو همکارانو ته وروپېژندل شو.

د یادې غونډې پر مهال، د کابل سیندیزې حوزې عمومي رئیس انجنیر حبیب الرحمن حقپال، د پورتني پنجشیر سیندیزې فرعي حوزې د فعالیتونو د لا غوره تنظیم او شته ستونزو د حل په موخه د یادې حوزې کارمندانو ته اړینې لارښوونې وکړې.

بادغیس ولایت کې د دریو کانالونو د لایروبي پروژه پیل شوه

د بادغیس ولایت په مقر او آبکمري ولسوالیو کې د اندري، ترکي او عبدالله خان کانالونو د لایروبی پروژه د مرغاب- قلعه نو سیندیزې فرعي حوزې د مسؤلینو په شتون کې پیل شوه.

په یاده پروژه کې ګڼ شمېر ځایي خلکو ته د کار زمینه چمتو شوې او چارې به یې د ۲۶ ورځو په موده کې بشپړې شي.

د نوموړې پروژې چارې د DRC موسسې په مالي ملاتړ د مرغاب- قلعه نو سیندیزې فرعي حوزې تر څارنې لاندې پرمخ وړل کېږي.

پروژه پاک‌کاری کانال افغان در ولایت کاپیسا به انجام رسید

پاک کاری کانال مذکور با هزینه سه صدو نه هزارو یک‌صدو پنجاه افغانی (۳۰۹۱۵۰) با حمایت مالی موسسه CHA در هماهنگی با حوزه فرعی دریایی کاپیسا و انجمن استفاده کنندگان آب کانال متذکره به انجام رسید.

کانال مذکور از قلعه سید خان الی پل اکرم خان ولسوالی حصه دوم پاک‌کاری گردید که در آن برای شمار زیادی از مردم زمینه کار مهیا گردیده بود.

په پکتیکا ولایت کې د دوه ویشت زره او پنځه سوه(۲۲۵۰۰) امریکایي ډالرو په ارزښت ۱۵ پروژې ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې

د پکتیکا ولایت په زیږوک ولسوالي کې د دوه ویشت زره او پنځه سوه(۲۲۵۰۰) امریکایي ډالرو په ارزښت ۱۵ پروژې چې پکې د استنادي دېوالونو، چکډمونو او ترینچونو جوړول او د څلور کیلومتره په اوږدوالي د کانالونو پاک کاري شاملې دي ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې.

د یادونې وړ ده، چې نوموړې پروژې د ان، اې، سي مؤسسې په مالي ملاتړ پلي شوې دي، چې په نوموړې ولسوالي کې به سلګونه هکتاره کرنیزې ځمکې د سیلابونو له خطراتو څخه خوندي او د ځمکې لاندې اوبو کچه لوړه شي.

تفاهمنامه همکاری میان وزارت آب و انرژی و وزارت تحصیلات عالی به امضا رسید

محترم ملا عبداللطیف "منصور" سرپرست وزارت آب و انرژی با محترم شیخ ندا محمد "ندیم" سرپرست وزارت تحصیلات عالی، تفاهمنامه همکاری مشترک علمی و تخنیکی میان هردو وزارت را به امضا رساند.

در آغاز این برنامه دوکتور لطف الله خیرخواه معین علمی وزارت تحصیلات عالی با اشاره به اهمیت روابط علمی و کاری میان ادارات و امضای این تفاهمنامه را در راستای ایجاد هماهنگی و همکاری مشترک میان هردو وزارت ارزشمند خواند.

همچنان محترم ملا عبداللطیف منصور سرپرست وزارت آب و انرژی هدف از امضای این تفاهمنامه را همکاری مشترک در راستای شریک سازی تجارب علمی و تخنیکی میان هردو وزارت بیان نموده تاکید کرد که اکنون زمان آن فرارسیده است تا با همکاری مشترک از تمام ظرفیت های علمی و مسلکی در راه آبادی کشور به وجه احسن استفاده صورت گیرد.

در همین حال آقای ندیم سرپرست وزارت تحصیلات عالی نیز امضای این تفاهمنامه را در راستای هماهنگی و همکاری میان هردو وزارت مهم و موثر خوانده به همکاری در راستای شریک سازی تجارب علمی، تخنیکی، تحقیقاتی و مسلکی میان هردو وزارت وعده سپرد.

قابل ذکر است که این تفاهمنامه به هدف تحکیم روابط متقابل، شریک سازی تجارب علمی و تخنیکی، تسهیل روند تحقیقات علمی، فراهم سازی فرصت های کارآموزی، ایجاد برنامه های ارتقای ظرفیت و سایر همکاری های مشترک علمی و تخنیکی میان هردو وزارت به امضا رسیده است.

د اوبو او انرژي سرپرست وزیر د غور ولایت له والي سره وکتل

د اوبو او انرژي سرپرست وزیر محترم ملا عبداللطیف منصور د خپل کار په دفتر کې د غور له والي محترم ملا احمدشاه دین دوست سره وکتل او په هغه ولایت کې د اوبو او انرژي پروژو په هکله یې خبرې اترې وکړې.

په یاده کتنه کې د غور والي د هغه ولایت د خلکو د اوبو د کموالي او برېښنا انرژي ته د نه لاسرسي ستونزې د اوبو او انرژي وزارت له رهبري سره شریکې کړې او په نوموړي ولایت کې یې د اوبو او انرژي پروژو د پلي کولو غوښتنه وکړه.

د اوبو او انرژي سرپرست وزیر د غور والي ته ډاډ ورکړ چې د شته امکاناتو په پام کې نیولو سره به دغور ولایت د خلکوستونزو ته رسیدگي وشي.

په خاکجبار ولسوالي کې د امیر غازي بند د پاکاري پروژه پرانیستل شوه

د امیر غازي بند په کاسه کې د رسوباتو د پاکاري پروژه په رضاکارانه توگه د افغان برکي سوداگریز شرکت له لوري، د منځنۍ کابل سیندیزې فرعي حوزې رئیس محترم مولوي ولي محمد تائب، د خاکجبار ولسوال محترم ملا غلام صدیق دانش ، د کابل سیندیزې حوزې انجنیرانو او د خاکجبار ولسوالي یو شمېر مشرانو په شتون کې پرانیستل شوه.

د منځنۍ کابل سیندیزې فرعي حوزې رئیس محترم مولوي تائب د نوموړې پروژې د پرانیستلو په وخت کې د یاد بند اهمیت ته په اشارې سره، د هغه پاکاري او ترمیم د ځمکې لاندې اوبو د پیاوړتیا او د اوبو د مدیریت په برخه کې یو ارزښتناک او اغېزمن گام وباله.

همدارنگه د کابل سیندیزې حوزې د ساتنې او مراقبت مدیر انجنیر جاوید احمد د یادې پروژې په هکله معلومات وړاندې کړل او څرگنده یې کړه، چې مونږ هڅه کوو چې د بند کاسې د پاکاري سره هم مهاله د بند د ترمیم او بیارغونې په برخه کې هم فعالیتونه پیل شي.

په ورته مهال، د خاکجبار ولسوال ملا غلام صدیق دانش او د نوموړې ولسوالي یو تن قومي مشر د بند د اهمیت په هکله خبرې وکړې او د پروژې د پلي کولو په برخه کې د سیمه ییزو مسؤلینو او خلکو د همکاري ډاډ ورکړ.

د یادونې وړده، چې د امیر غازي بند په خاکجبار ولسوالي کې موقعیت لري؛ چې په پاکاري ، ترمیم او بیا فعالولو سره یې ۱.۲ میلیونه متره مکعب اوبه ذخیره کېږي او دوه زره هکتاره کرنیزه ځمکه به تر اوبو خړوبولو لاندې راشي چې د بت خاک په ساحه کې به ۱۰ زره کورنۍ ورځخه گټه پورته کړي.

د اوبو او انرژي سرپرست وزیر په افغانستان کې د قزاقستان له سوداګریز استازي سره وکتل

د اوبو او انرژي سرپرست وزیر محترم ملا عبداللطیف منصور په افغانستان کې د قزاقستان له سوداګریز استازي محترم یسین تایف آرمان سره وکتل او د قزاقستان او افغانستان تر منځ د اوبو او انرژي په برخه کې د ګډې همکاري په هکله بحث او د اندونو تبادله وکړه.

په دغه کتنه کې، په افغانستان کې د قزاقستان سوداګریز استازي د اوبو او انرژي په پروژو کې د قزاقستاني شرکتونو د پانګونې له لېوالتیا څخه خبر ورکړ او د اوبو او انرژي وزارت له رهبري څخه یې د پانګونې لپاره د زمینې په چمتو کولو کې د همکاري غوښتنه وکړه.

په ورته مهال، د اوبو او انرژي سرپرست وزیر په هېواد کې د انرژي سکتور پراختیا د افغانستان له بنسټیزو اړتیاوو څخه وبلله او څرګنده یې کړه، چې د اوبو او انرژي وزارت رهبري د پانګونې لپاره د زمینې د چمتوکولو په برخه کې له هېڅ ډول همکاري څخه ډډه نده کړې او د بهرنیو پانګه اچوونکو له لېوالتیا څخه هم هرکلي کوي.

د اوبو معینیت اونیزه تخنیکي ناسته ترسره شوه

دغه ناسته د اوبو او نرژي وزارت د اوبو معین محترم مجیب الرحمن عمر اخندزاده تر مشري لاندې د اوبو سکتور د رئیسانو، سلاکارانو او تخنیکي مسؤلینو په ګډون تر سره شوه.

په دغه ناسته کې په کابل کې د کرنیزو فارمونو د خړوبولو په موخه د څاګانو لهٔ کیندلو سره د موافقې او نه موافقې، د هېواد په ولایتونو کې د مؤسساتو د دندو د وېش او ستونزو د حل په هکله د اقتصاد لهٔ وزارت سره د همغږي او لهٔ چهار آسیاب ولسوالي څخه کابل ښار ته د اوبو رسولو په هکله بحث او د اندونو تبادله وشوه،

د ناستې پهٔ بهیر کې رئیسانو او مسؤلینو د یادو موضوعاتو د څرنګوالي په هکله د اوبو له محترم معین سره مفصل معلومات شریک کړل.

ښاغلي معین د یادو موضوعاتو تر ارزولو وروسته اړونده مسؤلینو ته اړینې سپارښتنې او لارښوونې وکړې.

جلسه هماهنگی به منظور نهایی سازی پلان پنج ساله معینیت انرژی برگزار شد

این جلسه تحت ریاست محترم قاری محمد عبدالعزیز"عزیز" رئیس عمومی دفتر و وارسی کننده معینیت انرژی با حضور روئسا، مشاورین و مسئولین تخنیکی سکتور انرژی تدویر یافت.

در این جلسه در مورد نهایی سازی پلان عملیاتی پنج ساله انکشاف سکتور انرژی، گزارش های لازم توسط مسئولین مربوطه ارائه گردیده در مورد آن بحث و تبادل نظر صورت گرفت.

رئیس عمومی دفتر و وارسی کننده معینیت انرژی پس از بررسی همه جانبه، سفارشات لازم را جهت تسریع امور نهایی سازی پلان یاد شده ارائه نمود.

په میدان وردګ ولایت کې د څه باندې درې میلیونه افغانیو په ارزښت ۲۰ کړی ژورې څاګانې کېندل کېږي

د ترکیې هېواد د اوبو د څاګانو نړیواله ټولنه د اوبو او انرژي وزارت سره د یوې هوکړې پر بنسټ د میدان وردګ ولایت په چک ، نرخ او سیدآباد ولسوالیو کې ۲۰ کړی ژورې څاګانې د درې میلیونه، څلور سوه او شل زره(۳۴۲۰۰۰۰) افغانیو په ارزښت کېندي.

د میدان ښار سیندیزې حوزې رئیس محترم مولوي عبدالصمد حلیم د نوموړې ټولنې له ولایتي مسؤل محترم انجنیر سنګر افضلي سره وکتل او له هغه سره یې د نوموړې پروژې د پلي کولو په برخه کې د هر راز همکاري ډاډ ورکړ.

په ورته مهال، د نوموړې ټولنې استازي د میدان ښار سیندیزې حوزې د رئیس د همکاري له څرګندولو خوښی وښوده او د لا زیاتو همکاریو ډاډ یې ورکړ.

سرپرست وزارت آب و انرژی با والی ولایت نورستان دیدار کرد

محترم ملا عبداللطیف منصور سرپرست وزارت آب و انرژی با محترم شیخ شیر احمد حقانی والی ولایت نورستان دیدار نموده در مورد پروژه های آب و انرژی در آن ولایت صحبت نمودند.

در این دیدار والی ولایت نورستان توزیع برق بند پارون مرکز ولایت نورستان و اعمار بند برق کله گوش آن ولایت را به مقام رهبری وزارت آب و انرژی پیشنهاد کردند.

سرپرست وزارت آب و انرژی به والی ولایت نورستان اطمینان داد که بند کله گوش به خاطریکه در راستای تولید برق از اهمیت خاص برخوردار می باشد، در پلان آینده وزارت آب و انرژی در نظر گرفته خواهد شد، همچنان به سایر مشکلات مردم نورستان با توجه به امکانات موجود رسیدگی لازم صورت خواهد گرفت.

د اوبو او انرژي سرپرست وزیر د "امید سبز" ښارګوټي له مشرانو سره وکتل

د اوبو او انرژي سرپرست وزیر محترم ملا عبداللطیف منصور د کابل ښار د شپږمې ناحیې د "امید سبز" ښارګوټي له مشرانو سره چې د حاجي نبي ښارګوټي په نوم مشهور دی، وکتل.

په دغه کتنه کې، د نوموړي ښارګوټي اوسیدونکو په یاد ښارګوټي کې د څښاک اوبو د کموالي ستونزه د اوبو او انرژي له سرپرست وزیر سره شریکه کړه او د خپلو ستونزو د هوارولو غوښتنه یې وکړه.

د اوبو او انرژي سرپرست وزیر هغوی ته داډ ورکړ، چې یاده موضوع به و څېړل شي او د شته امکاناتو په پام کې نیولو سره به د نوموړي ښارګوټي د اوسیدونکو ستونزو ته رسیدګي وشي.

سرپرست وزارت آب و انرژی با بزرگان ولسوالی محمد آغه ولایت لوگر دیدار کرد

محترم ملا عبداللطیف منصور سرپرست وزارت آب و انرژی با بزرگان ولسوالی محمد آغه ولایت لوگر دیدار نموده در مورد مشکلات مردم ولسوالی متذکره در خصوص نداشتن دسترسی به انرژی برق صحبت نمودند.

در این دیدار بزرگان ولسوالی محمد آغه از مقام رهبری وزارت خواستار تطبیق پروژه برق رسانی به ولسوالی متذکره شدند.

سرپرست وزارت آب و انرژی به آنها اطمینان داد که با توجه به امکانات موجود به مشکلات آنها رسیدگی خواهد شد.

د الله(ج) د عذابونو نازلیدو د اسبابو په هکله د دعوت او ارشاد روزنیز او اصلاحي سمینار ترسره شو

یاد سمینار د اوبو او انرژي وزارت د دعوت او ارشاد رئیس محترم مولوي ګل رحمن عارف او د یاد وزارت د ګڼ شمېر کارمندانو په ګډون ترسره شو.

په دې سمینار کې ښاغلي عارف د هغو ګناهونو په هکله چې د الله(ج) د عذابونو د نازلیدو لامل ګرځي خبري وکړې او په اسلامي ټولنو کې د امر باالمعروف او نهي عني المنکر پرېښودل او همدارنګه د حیا نشتون یې د الهي عذابونو د نازلیدو لاملونه وبلل.

ددې سمینار په دوام کې د اوبو او انرژي وزارت د دعوت او ارشاد رئیس د ګناهونو د زیان په هکله خبرې وکړې او د فتنې د علاج په هکله یې هم د اوبو او انرژي وزارت له کارمندانو سره اړین معلومات شریک کړل.

تفاهم‌نامه توزیع سولر و وسایل برقی در سه ولایت میان مسئولین ریاست انرژی پایدار و موسسه شهدا امضا شد

تفاهم نامه توزیع سولر و وسایل برقی به۲۸۵ فامیل در ولایت‌های بامیان، غزنی و دایکندی میان مسئولین ریاست انرژی پایدار وزارت آب و انرژی و موسسه شهدا امضا گردید.

به اساس این تفاهم‌نامه، قرار است که پروژه توزیع سولر و وسایل برقی به۱۱۴ فامیل در ولایت بامیان،۸۶ فامیل در ولایت غزنی و ۸۵ فامیل در ولایت دایکندی به زودی آغاز گردد.

قابل یاد ذکر است که این پروژه تحت نظارت مسئولین ریاست انرژی پایدار وزارت آب و انرژی به پیشبرده می‌شود.

سرپرست وزارت آب و انرژی با نماینده انجمن تاجران مؤسسات کشور ترکیه در افغانستان دیدار نمود

محترم الحاج ملا عبداللطیف منصور سرپرست وزارت آب و انرژی با محترم فاتح چایه باتمز نمایندهٔ انجمن تاجران مؤسسات کشور ترکیه در افغانستان و محترم عمر ایلدریم عضو انجمن متذکره دیدار نموده، پیرامون سرمایه گذاری در پروژه های تولید انرژی برق از منابع آب، گاز و زغال سنگ بحث و تبادل نظر نمودند.

در این دیدار، نماینده انجمن متذکره از علاقه مندی خویش به سرمایه گذاری در پروژه های تولید انرژی برق از منابع آب، گاز و زغال سنگ را ابراز نموده، خواستار همکاری مقام رهبری وزارت آب و انرژی در این زمینه شدند.

در همین حال، سرپرست وزارت آب و انرژی، از کارکردهای سازندهٔ سرمایه گذاران ترکی در

افغانستان قدردانی نموده، ابراز داشت که مقام رهبری وزارت آب و انرژی آماده هرنوع همکاری جهت فراهم ساختن زمینه سرمایه گذاری در بخش تولید انرژی برق می باشد.

در پایان این دیدار، توافق صورت گرفت تا تیم های تخنیکی دو طرف جهت بحث و گفتگو پیرامون موضوعات تخنیکی پروژه ها باهم دیدار نمایند.

ننګرهار ولایت کې شپږ پروژې د څه باندې ۱۰۹ میلیونه افغانیو په ارزښت ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې

د ننګرهار ولایت په روداتو ولسوالي کې د اوبو لګولو شپږ پروژې د څه باندې یوسل او نهه (۱۰۹) میلیونه افغانیو په ارزښت د اوبو او انرژي سرپرست وزیر محترم ملا عبداللطیف منصور، د ننګرهار مرستیال والي محترم مولوي سید احمد بنوري او یو شمېر نورو سیمه ییزو مسؤلینو په ګډون ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې.

د دغو پروژو د ګټې اخیستنې په مراسمو کې د اوبو او انژي سرپرست وزیر وویل، چې دغه وزارت د ټول هېواد په سطحه د اوبو د مدیریت او د انرژي د تولید لپاره متوازنې برنامې لري، چې له مخې یې په ختیځ زون او ننګرهار ولایت کې د اوبو کمښت ستونزو د حل په موخه د اوبو رسولو، بندونو جوړولو او دې ته ورته پروژو د پلي کولو پلان لري چې په مناسب وخت او د بودجې له ترلاسه کولو سره سم به پرې عملي کار پیل شي.

په دغو پروژو کې د نومورې ولسوالي په روغانو، قطرغې او میرجې کلیو کې د ۳۳ مترو په اوږدوالي او یو متر لوړوالي د اوبو یو سربند، د ۷۳۵ مترو په اوږدوالي او ۲ مترو پلنوالي د اوبو کانال، د ۹۰۰ مترو په اوږدوالي د کاریز پاکاري او ترمیم، ۲۴ چکډمونه، سلګونه متره استنادي دیوالونه او د اوبو وړې ذخیرې شاملې دي.

د نومورو پروژو چارې د WFP سازمان په مالي ملاتړ د اې، ایې، دې موسسې په تخنیکي همکاري او د ننګرهار سیندیزې حوزې تر څارنې لاندې پرمخ وړل کېدې، چې پکې ګڼو کسانو ته د کار زمینه برابره شوې وه.

په ورته مهال، د اوبو او انرژي سرپرست وزیر په ننګرهار ولایت کې د بېلابېلو پروژو د لیدنې ترڅنګ د یاد ولایت د کوټ ولسوالي په بالا کوټ سیمه کې د اوبو له یوې زیرمې څخه چې کابو ۸۳ زره متره مکعب اوبه ذخیره کوي، هم لیدنه وکړه.

په پکتیکا ولایت کې د۱۵۷۵۰۰ امریکایې ډالرو په ارزښت د ۱۵ پروژو چارې پرانیستل شوې

د پکتیکا ولایت په نکي ولسوالي کې د۱۵ پروژو رغنیزې چارې د یو سلو اوه پنځوس زره پنځه سوه (۱۵۷۵۰۰) امریکایي ډالرو په ارزښت د نکي ولسوالي ولسوال الحاج مولوي شرف الدین منیر، د ګومل سیندیزې فرعي حوزې استازي انجنیر بخته جان بختیار، د افغانستان لپاره د ناروې کمیټې (NAC)ولایتي مسئول انجنیر ظریف هلال او یو شمېر قومي مشرانو په شتون کې پرانیستل شوې چې پکې د کوچنیو ذخیروي بندونو، استنادي دېوالونو او د کانالونو پاک کاري شاملې دي.

د یادونې وړ ده، چې نومورې پروژې د افغانستان لپاره د ناروې کمیټې (NAC)په مالي ملاتړ د ګومل سیندیزې فرعي حوزې تر څارنې لاندې ترسره کېږي چې ګڼ شمېر هېودوالو ته پکې د کار زمینه چمتو کېږي.

کار دیزاین بند کوچک سروکانوی ولایت غزنی به زودی آغاز خواهد شد

محترم مولوی محمد شفیق عمر منصور، رئیس حوزه فرعی دریایی غزنی با محترم انجنیر انعام الدین جمالی،مسئول ولایتی موسسه DRC دیدار کرد و پیرامو دیزاین بند کوچک سروکانوی ولسوالی قره باغ ولایت غزنی بحث و تبادل نظر نمود.

در این دیدار، فیصله شد که کار دیزاین بند متذکره از سوی تیم‌های تخنیکی حوزه فرعی دریایی غزنی و موسسه مذکور انجام شود.

این درحالی‌ست که یک بخش پرچاوه بند مذکور از اثر سرازیر شدن سیلاب‌ها تخریب گردیده است.

پکتیا ولایت کې د اوبو لګولو دوه پروژې د نږدې دوه سوه څلوېښت زره ډالرو په ارزښت ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې

د اوبو او انرژي د سرپرست وزیر محترم ملا عبداللطیف منصور، د پکتیا سیندیزې فرعي حوزې رئیس محترم مولوي محمد کریم فاتح، د لوګر سیندیزې فرعي حوزې رئیس محترم ملا اسماعیل آخندزاده، د اړیکو دفتر موسسې عمومي مسؤل محترم محمد رحیم خوستي او یو شمېر نورو سیمه ییزو مسؤلینو په شتون کې د پکتیا ولایت د مرکز اړوند د تیرې په سیمه کې د تندانو سربند پروژه چې څلور سوه کورنۍ ورڅخه استفاده کوي او روحاني بابا ولسوالي کې د کني کانال پروژه چې درې کیلو متره اوږدوالی لري او ۲۰۰۰ هکتاره ځمکه خړوبوي د دوه سوه اووه دیرش زره او نهه سوه نوي (۲۳۷۹۹۰) ډالرو په ارزښت ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې.

د نوموړو پروژو په مراسمو کې د اوبو او انرژي سرپرست وزیر د اوبو د مدیریت په برخه کې خبرې وکړې او د اوبو مدیریت یې د هېواد لپاره یو ستر اقتصادي عامل یاد کړ. نوموړي د هېواد د آبادۍ په برخه کې د مسلکي قشر ونډه بنسټیزه وبلله او زیاته یې کړه، چې اوس په هېواد کې د امن فضا رامنځته شوې ؛ د پروژو د پلي کولو او د پانګونې لپاره تر ټولو ښه فرصت چمتو شوی دی.

همدارنګه د اوبو او انرژي سرپرست وزیر د کني او ګاویان د اوبو د ذخیروي بندونو له سیمو څخه هم لیدنه وکړه.

حبیب الله توتاخیل سوداګریز شرکت ته د ۴۰۰ کیلو ولټ امپیر برېښنا انرژي د تولید او وېش جواز ورکړل شو

دغه جواز د برېښنا مارکیټ حقوقي رئیس محترم مولوي نورالله حکمت له خوا د حبیب الله توتاخیل سوداګریز شرکت مسؤل ته ورکړل شو.

ښاغلي مولوي حکمت د دغه جواز د وېش پر مهال د برېښنا مارکیټ رامنځته کول او قانوني کول د اوبو او انرژي وزارت له کاري ځانګو وباله او ټینګار یې وکړ، چې خپل خدمتونه له قانون، کړنلارو او ستندردونو سره سم وړاندې کړي، ترڅو له ځاني او مالي زیانونو څخه مخنیوی وشي.

د یادونې وړده، چې نوموړی شرکت د کابل ښار په ۱۱ ناحیه کې د لیسې مریم په سیمه کې د برېښنا د تولید او وېش په برخه کې فعالیت کوي.

جلسه تخنیکی به منظور ارزیابی پروپوزل پروژه ۳۰۰ میگاوات برق ولایت جوزجان برگزار شد

این جلسه تحت رهبری محترم ملا عبداللطیف منصور سرپرست وزارت آب و انرژی با حضور محترم قاری محمد عبدالعزیز عزیز رئیس عمومی دفتر و وارسی کننده معینیت انرژی، فرهاد محمودی رئیس برنامه های انرژی و تیم تخنیکی آن ریاست برگزار گردید.در این جلسه پروپوزل پروژه تولید۳۰۰ میگاوات برق از منابع گاز در شبرغان که از سوی شرکت یلوریور چینایی با وزارت آب و انرژی جهت تطبیق پروژه متذکره شریک شده بود، طی یک پرزنتیشن توسط تیم تخنیکی ریاست برنامه های انرژی ارائه گردید.

سرپرست وزارت آب و انرژی پس از ارزیابی پروپوزل متذکره هدایات لازم را ارائه نموده بر تسریع امور تاکید ورزید.

د کابل ښار په درې ناحیو کې د څښاک اوبو رسولو پروژې د پلي کولو په هکله ناسته ترسره شوه

دغه ناسته د کابل سیندیزې عمومي حوزې رئیس محترم انجنیر حبیب الرحمن حقپال تر مشرۍ لاندې د اوبو او انرژي وزارت د اوبو چارو د تنظیم عمومي رئیس محترم انجنیر نعمان نثار، د اوبو سرچینو عمومي رئیس محترم انجنیر نثاراحمد مموزي، د ځمکې لاندې اوبو رئیس محترم انجنیر عزیزالرحمن عزیز او د فرهیخته د اوبو رسولو او ودانیز شرکت د مسؤلینو په ګډون ترسره شوه.

په دغه ناسته کې پرېکړه وشوه چې نوموړی شرکت دې د کابل ښار د درییمې، شپږمې او دیارلسمې ناحیو د اوسیدونکو لپاره له چهار آسیاب ولسوالي څخه د څښاک اوبه د اوبو او انرژي وزارت د تخنیکي ټیمونو تر څارنې لاندې په معیاري توګه چمتو کړي.

د یادونې وړ ده، چې د اوبو او انرژي وزارت رهبري د بېلابېلو پروژو په پلي کولو سره هڅه کوي چې د کابل ښاریانو لپاره د څښاک اوبه چمتو کړي

د اوبو معینیت اونیزه تخنیکي ناسته ترسره شوه

یاده ناسته د اوبو او انرژي وزارت د اوبو معین محترم مجیب الرحمن عمر آخندزاده تر مشري لاندې د اوبو سکتور د رئیسانو، سلاکارانو او تخنیکي مسئولینو په ګډون د اوبو معینیت د غونډو په تالار کې ترسره شوه.

په دې ناسته کې د بېلابېلو موضوعاتو په څانګړې توګه د اقتصادي کمیسیون د مصوبې پر بنسټ د کابل ښار د غیر صنعتي زون د معدني اوبو او غیر الکولي مشروباتو شرکتونو ته د کابل ښار څخه بهر د سطحي اوبو سرچینو ټاکل او د کاپیسا ولایت د صیاد سیمې د مطالعاتو په هکله د پرزنتیشن وړاندې کول، د اوبو تأسیساتو لکه د کانالونو، چکډمونو او استیشنونو د ساتنې او مراقبت او د اوبو سرچینو د ملي بانک د ماهیت او ارقامو په هکله بحث او د اندونو تبادله وشوه او اړین تصمیمونه ونیول شول.

د اوبو ښاغلي معین د نوموړو موضوعاتو د غوره ترسره کولو په موخه اړوندو مسؤلینو ته اړین هدایات ورکړل.

رئیس جدید تدارکات وزارت آب و انرژی به همکاران معرفی شد

محترم الحاج محمد حارث زرمتی که قبلاً در وزارت آب و انرژی به حیث مشاور اقتصادی مقام این وزارت ایفای وظیفه می نمود اکنون براساس لزوم دید مقام رهبری وزارت به حیث رئیس تدارکات تعیین و به همکاران معرفی گردید.

محترم الحاج محمدالدین نیازی رئیس عمومی مالی واداری وزارت آب و انرژی حین معرفی رئیس جدید تدارکات، تغییر و تبدیل را در ادارات یک اصل خوانده و هدف از این کار را بهبود اجراآت و مدیریت بهتر امور بیان کرد.

قابل ذکر است که آقای زرمتی برعلاوه فراگیری دروس دینی، دارای سند لیسانس از پوهنخی اقتصاد پوهنتون کابل بوده و دیپلوم محاسبه مسلکی را با آموزش آنلاین از پوهنتون آکسفورد لندن نیز بدست آورده است.

سروی بند ذخیروی آب و تولید برق قریه وغنیر در ولایت دایکندی انجام شد

محترم رحیم الدین رحمانی رئیس حوزه فرعی دریایی دایکندی و تیم تخنیکی همراه شان سروی بند ذخیروی آب و تولید برق را در قریه وغنیر ولسوالی پاتوی ولایت دایکندی انجام داد.

قابل یادآوری است که بند ذخیروی مذکور ظرفیت ذخیره نمودن ده ها هزار متر مکعب آب، تولید برق و آبیاری ده ها هکتار زمین زراعتی را دارا می باشد.

همچنان، رئیس حوزه فرعی دریایی دایکندی پیرامون مدیریت و انکشاف منابع آب در این ولسوالی وعده هرنوع همکاری را به باشنده گان ولسوالی مذکور داد.

په پکتیکا ولایت کې د انرژي (۰.۴/۲۰) کیلوولټ توزیعي شبکو اساسي سروې ترسره شوه

د پکتیکا ولایت مرکز اړوند سیمو د انرژي د (۰.۴/۲۰) کیلوولټ توزیعي شبکو اساسي سروې د انرژي د انجنیري خدمتونو مشورتي (واپیکا) ریاست د تخنیکي ټیم له لوري ترسره شوه.

د یادونې وړ ده، چې د یادې سروې موخه د 35 ترانسفارمرونو لپاره د مناسب ځای، د توزیعي شبکې مناسب لوری او د یادې ساحې توپوګرافي ټاکل دي.

در حوزه جنوب غرب کشور سروی ۱۹ میگاوات انرژی بادی و ۲۰ میگاوات انرژی خورشیدی انجام شد

کارمندان ریاست انرژی پایدار وزارت آب و انرژی سروی ۱۴ میگاوات انرژی بادی و ۲۰ میگاوات انرژی خورشیدی را در ولایت هرات و سروی ۵ میگاوات انرژی بادی را در ولایت نیمروز انجام دادند.

د اوبو او انرژي وزارت رهبري د کابل ښار د اوبو رسولو خصوصي شرکتونو له ټولنې سره د اوبو د کموالي د ستونزې په هکله خبرې وکړې

د اوبو او انرژي سرپرست وزیر محترم ملا عبداللطیف منصور او د دغه وزارت د اوبو معین محترم مجیب الرحمن عمر آخندزاده د کابل ښار د اوبو رسولو خصوصي شرکتونو د ټولنې له مسؤلینو او غړو سره وکتل او په کابل ښار کې د څښاک اوبو د کموالي د ستونزې او د دې ستونزې د هوارولو لپاره د شونو حل لارو د عملي کولو په هکله بحث او د اندونو تبادله وکړه.

په دغه لیدنه کې، د نوموړې ټولنې مسؤلینو خپلې ستونزې او وړاندیزونه د اوبو او انرژي وزارت له رهبري سره شریک کړل او څرګنده یې کړه ، چې دغه ټولنه د کابل ښاریانو لپاره د څښاک اوبو د برابرولو او د بې خایه کارونې د مخنیوي په برخه کې د اوبو او انرژي له وزارت سره همکاره ده.

په ورته مهال، د اوبو او انرژي سرپرست وزیر د کابل د څښاک اوبو د حیاتي موضوع اهمیت ته په اشارې سره یادونه وکړه، چې د اوبو او انرژي وزارت د لنډ مهاله او اوږد مهاله پلانونو سره سم، کابل ښار ته د څښاک اوبو د برابرولو لپاره عملي اقدامات تر لاس لاندې نیولي او همدارنګه دغه موضوع د کابینې په شورا کې هم په جدي توګه مطرح شوې ده؛ ترڅو یې په هکله اړین تصمیمونه ونیول شي.

د اوبو او انرژي سرپرست وزیر او د دغه وزارت معین هر یوه په خپل وار سره ټینګار وکړ، چې په کابل ښار کې د څښاک اوبو د کموالي د ستونزې د هوارولو او ورځخه د بې خایه کارونې د مخنیوي لپاره اړینه ده چې د حکومت برسېره، د اوبو رسولو شرکتونه او خلک هم خپل مسؤلیتونه ترسره کړي او د اوبو له بې خایه کارونې څخه ډډه وکړي.

په پای کې هوکړه وشوه چې د اوبو او انرژي وزارت، د اوبو رسولو ریاست او د اوبو رسولو خصوصي شرکتونو یوه مشخصه کمېټه د ستونزو د هوارولو او د شونو حل لارو د موندلو لپاره په ګډه کار وکړي، ترڅو د کابل ښار د څښاک اوبو د برابرولو او د اوبو د بې خایه ګټې اخیستنې د مخنیوي لپاره اړین اقدامات ترسره شي.

رئیس جدید تعیین شده حوزه فرعی دریایی شمل- خرم خوست به همکاران معرفی شد

محترم مولوی عبدالقیوم ثابت، رئیس جدید تعیین شده حوزه فرعی دریایی شمل- خرم خوست از سوی محترم انجنیر حبیب الرحمن حقپال، رئیس عمومی حوزه دریایی کابل با حضور محترم ملا محمد اسماعیل آخندزاده، رئیس حوزه فرعی دریایی لوگر، محترم قاری رحمت‌الله، رئیس دفتر مقام ولایت خوست و شماری دیگر از مسئولین محلی به همکاران معرفی گردید.

رئیس جدید حوزه فرعی دریایی شمل- خرم به گونه مخلصانه وعده پیشبرد امور را داد.

آقای ثابت در زمان اشغال افغانستان از سوی آمریکایی ها منحیث عضو کمیسیون ولایتی ولایت پکتیا و بعد از فتح، به حیث مدیر عمومی پلان و اوپراسیون قوماندانی امنیه ولایت پکتیا

په پنجشیر ولایت کې د ۳۴ واټر شیډونو او چکډمونو چارې د څه باندې ۱۸۱ زره آمریکایي ډالرو په ارزښت پیل شوې

په پنجشیر ولایت کې د 34 واټر شیډونو او چکډمونو چارې د یو سلو یو اتیا زره او پنځه سوه دوه نوې (۱۸۱۵۹۲) آمریکایي ډالرو په ارزښت د پورتني پنجشیر- بازارک سیندیزې فرعي حوزې رئیس محترم مولوي فضل الله عادل، په پنجشیر ولایت کې د ناروي کمېټې د مسؤل او یو شمېر سیمه ییزو مسؤلینو په شتون کې پیل شوې.

د نوموړو پروژو چارې د نوموړي ولایت په مرکز ، شتل، عنابه او رخه ولسوالیو کې د ناروي کمېټې په مالي ملاتړ د سیلابونو د مدیریت او د ځمکې لاندې اوبو سرچینو د مدیریت په موخه پلي کېږي.

مقامات رهبری وزارت آب و انرژی در دیدار با مسئولین گروپ تجارتی سادات در مورد پروژه های تامین آب شهر کابل صحبت نمودند

محترم ملا عبداللطیف منصور سرپرست وزارت آب و انرژی و محترم مجیب الرحمن عمر آخندزاده معین آب این وزارت با مسئولین گروپ تجارتی سادات دیدار کردند.

در این دیدار مسئولین تجارتی گروپ سادات علاقه مندی خویش را به سرمایه گذاری روی پروژه های تامین آب آشامیدنی شهر کابل ابراز داشتند.

سرپرست وزارت آب و انرژی با اشاره به اهمیت حیاتی موضوع تامین آب آشامیدنی شهر کابل اظهار داشت که این وزارت جهت تامین آب شهرکابل روی برنامه های مشخص از قبیل انتقال آب ازپنجشیر به کابل، بند شاه و عروس، بند للندر شاتوت و انتقال آب از جلریز به کابل کار می نماید

آقای منصور علاوه کرد که رهبری وزارت آب و انرژی از هر شرکت که بتوانند در تطبیق این برنامه با وزارت آب و انرژی همکاری نمایند استقبال می نماید، سرپرست وزارت آب و انرژی تاکید کرد که به خاطر اهمیت موضوع تامین آب آشامیدنی شهر کابل لازم است تا هرچه زود تر کار های عملی روی دست گرفته شود

د اوبو او انرژي سرپرست وزیر پکتیا ولایت ته سفر وکړ

د افغانستان د اسلامي امارت د اوبو او انرژي سرپرست وزیر محترم الحاج ملا عبداللطیف "منصور" تېره ورځ د یوه کاري سفر په بهیر کې د پکتیا ولایت د زرمت ولسوالي ته ولاړ. نوموړي د دغه سفر په ترڅ کې په هغه غونډه کې ګډون وکړ چې د یادې ولسوالي ولسوال، د ولسوالي نور کارمندان ،ډلګی مشران او قومي مشران یې ګډون وال وو.

محترم وزیر صاحب او د غونډې ګډون والو په دغه ناسته کې د یادې ولسوالي د خلکو ستونزې په تېره بیا هغه قومي تړونونه چې پخوا شوي وو ،وځېړل او ټینګار یې وکړ چې یاد تړونونه باید په بشپړ ډول عملي شي، دغه راز وزیر صاحب د یادې ولسوالي منسوبینو او قومي مشرانو ته د اسلامي امارت د تګلارو په هکله مفصل معلومات وړاندې کړل او ډاډ یې ورکړ چې د دغې ولسوالي د خلکو د ستونزو د حل په موخه به له خپل ټول توان او صلاحیت څخه کار اخلي او د خپلو خلکو د خدمت په لاره کې به هیڅکله د ستړیا احساس ونکړي.

د غونډې ټولو ګډونوالو د محترم وزیر صاحب له راتګ او څرګندونو څخه خوښي وښوده او ژمنه یې وکړه چې دوی به هم د خپلې ولسوالي د خلکو د ستونزو د حل په موخه خپلې همکاري او هلو ځلو ته دوام ورکړي. غونډه د ګران هېواد د ابادي او سمسورتیا په دعا سره پای ته ورسېده.

د اوبو او انرژي وزارت د سروې او ډیزاین ریاست او د تالقان سیندیزې فرعي حوزې د انجنیرانو ترمنځ د همغږي ناسته ترسره شوه

د اوبو او انرژي وزارت د اوبو تأسیساتو د سروې او ډیزاین ریاست او د تالقان سیندیزې فرعي حوزې د انجنیرانو ترمنځ د همغږي ناسته د ۹ چکډمونو د سروې او د نمک آب پروژې د بیاکتنې په موخه د تالقان سیندیزې فرعي حوزې رئیس مولوي صبغت الله قانع په شتون کې ترسره شوه.

په یاده ناسته کې د ۹ چکډمونو د سروې او د نمک آب پروژې د وداني د ویجاړیدو په مخنیوي او د سیلابونو په راکمولو کې د هغوی د ارزښت په هکله اړین توضیحات وړاندې شول، چې د یادو چکډمونو سروې به په نږدې راتلونکي کې پیل شي

د اوبو او انرژي سرپرست وزیر د سرپل مرستیال والي او مشرانو سره وکتل

د اوبو او انرژي سرپرست وزیر محترم ملا عبداللطیف منصور د سرپل مرستیال والي محترم محمد نادر او د هغه ولایت له مشرانو سره وکتل او په نوموړي ولایت کې یې د اوبو او انرژي پروژو د پلي کولو په هکله خبرې وکړې.

په دغه لیدنه کې، د سرپل ولایت مشرانو خپلې ستونزې د وزارت له رهبري سره شریکې کړې او د سلطان ابراهیم بند د پروژې د پلي کولو او د اوبو لګولو کوچنیو بندونو د جوړولو غوښتنه یې وکړه.

د اوبو او انرژي سرپرست وزیر هغوی ته ډاډ ورکړ، چې د شته امکاناتو په پام کې نیولو سره به د بندونو د جوړولو په برخه کې د سرپل ولایت د خلکو ستونزو ته رسیدګي وشي.

د اوبو او انرژي وزارت سرپرست وزیر په چین هېواد کې د افغانستان له سفیر سره وکتل

د اوبو او انرژي سرپرست وزیر محترم ملا عبداللطیف منصور د خپل کار په دفتر کې په چین هېواد کې د افغانستان له سفیر محترم سید محي الدین سادات سره وکتل.

په دغه کتنه کې، په افغانستان کې د پانګونې لپاره د چین هېواد پانګوالو د هڅولو او د اوبو او انرژي پروژو د پلي کولو په برخه کې د دواړو هېوادونو ترمنځ د همکاریو د پراختیا په هکله بحث او د اندونو تبادله وشوه.

د اوبو او انرژي سرپرست وزیر په افغانستان کې د اوبو او انرژي په پروژو کې د چینایي پانګوالو د پانګونې لپاره د لا همغږیو او د چارو د ښه انسجام په موخه اړینې سپارښتنې وکړې.

په ورته مهال، په چین کې د افغانستان سفیر څرګنده کړه، چې په چین هېواد کې ګڼ شمېر پانګوال په افغانستان کې د لږیزې برېښنا ، باد، ډبرو سکرو او اوبو سرچینو په پروژو کې پانګونې ته لېواله دي، اړینه ده چې د دې پانګونو لپاره زمینه چمتو شي.

جلسه هماهنگی میان مقامات رهبری وزارت آب و انرژی و وزارت صنعت و تجارت برگزار شد

محترم ملا عبداللطیف منصور سرپرست وزارت آب و انرژی در یک جلسه با محترم الحاج نورالدین عزیزی سرپرست وزارت صنعت و تجارت در مورد هماهنگی جهت پیشبُرد امور سرمایه گذاری روی پروژه های آب و انرژی صحبت نمودند.

در این جلسه در مورد اقدامات لازم جهت فراهم سازی زمینه سرمایه گذاری روی پروژه های لین های انتقالی، پروژه های تولید برق از منابع ذغال سنگ و گاز، پروژه انتقال آب از پنجشیر به کابل و شماری دیگر از پروژه های وزارت آب و انرژی بحث و تبادل نظر صورت گرفت.

سرپرست وزارت صنعت و تجارت در این جلسه از اعلان آمادگی شماری از شرکت های سرمایه گذار خارجی و داخلی برای تطبیق پروژه های متذکره خبر داده جلب سرمایه گذاری روی پروژه های آب و انرژی را از اولویت های کاری خویش خواند.

در همین حال سرپرست وزارت آب و انرژی با اشاره به اهمیت پروژه های آب و انرژی، از همکاری این وزارت در راستای پیشبُرد امور سرمایه گذاری روی پروژه های یاد شده اطمینان داده به تسریع امور تاکید ورزید.

کار پاک‌کاری کانال مرکزی شهر چاریکار با هزینه هفت میلیون افغانی آغاز شد

کار پاک‌کاری شانزده کیلو متر کانال مرکزی شهر چاریکار با هزینه هفت میلیون افغانی با حضور مفتی محمد ادریس انوری، معاون والی پروان ،انجنیر مجیب الرحمن حبیبی، رئیس حوزه فرعی دریایی غوربند چاریکار و شماری از مسئولین محلی ولایت پروان آغاز گردید.

آقای حبیبی حین افتتاح پاک‌کاری کانال متذکره گفت که در این پروژه برای بیش از ۷۰۰ تن زمینه کار مساعد گردیده و کار آن در ظرف دوماه تکمیل خواهد شد.

کار این پروژه با حمایت مالی موسسه DRC به پیشبرده می‌شود.

دو پروژه آبیاری در ولایت ارزگان به ارزش بیش از پنجصد هزار دالر به بهره برداری سپرده شد

چکدم قلعه سرخ و گیبون یک لنگی در مربوطات ترینکوت، مرکز ولایت ارزگان به ارزش (۵۰۰۴۵۴) پنجصد هزارو چهار صدو پنجاو چهار دالر آمریکایی با حضور محترم ملا باری گل آخند، معاون والی ارزگان، محترم ملا وکیل احمد نقی، رئیس حوزه فرعی دریایی ترینکوت و ریچارد ترانچرد، مسئول سازمان FAO و شماری از مسئولین محلی به بهره برداری سپرده شد.

مسئول سازمان مذکور حین به بهره برداری سپردن پروژه‌های متذکره اظهار داشت که به منظور بلند آوردن سطح آب در نظر دارد که ۷۰۰ پروژه چکدم کوچک دیگر را نیز احداث نمایند.

کار این پروژه ها با حمایت مالی سازمان FAOتحت نظارت حوزه فرعی دریایی ترینکوت به پیشبرده می شد.

سرپرست وزارت آب و انرژی با شورای سرتاسری انسجام بلوچ های افغانستان دیدار کرد

محترم ملا عبداللطیف منصور سرپرست وزارت آب و انرژی با محترم سردار غلام نبی بلوچ رئیس عمومی شورای سرتاسری انسجام بلوچ های افغانستان و شماری از اعضای این شورا دیدار نمود.

در این دیدار مسئولین و اعضای شورای سرتاسری انسجام بلوچ های افغانستان با ابراز حمایت از امارت اسلامی افغانستان از کارکرد های مقام رهبری وزارت آب و انرژی نیز قدردانی به عمل آورد.

مسئولین و اعضای شورای یاد شده مشکلات کم آبی در ولایت نیمروز و همچنان مشکلات کمبود آب آشامیدنی در شهر کابل را با سرپرست وزارت آب و انرژی شریک نموده خواستار همکاری مقام رهبری وزارت شدند.

سرپرست وزارت آب و انرژی در این دیدار از مجاهدت ها و قهرمانی های بلوچ های افغانستان به نیکی یاد کرده به آنها اطمینان داد که ما تلاش می نماییم تا در حد امکان به مشکلات کم آبی شما رسیدگی صورت گیرد.

د اوبو او انرژي سرپرست وزیر د ترکیې هېواد د سفیر له سلاکار او د ۷۷ ترکي ودانیز شرکت له مرستیال سره وکتل

د اوبو او انرژي سرپرست وزیر محترم ملا عبداللطیف منصور د خپل کار په دفتر کې د ترکیې هېواد د سفیر له سلاکار محترم جانگیز آی دمیر او د ۷۷ ترکي ودانیز شرکت له مرستیال محترم بوراک اونسال سره وکتل او د اوبو او انرژي پروژو د پلي کولو په برخه کې یې بحث او د اندونو تبادله وکړه.

په دغه کتنه کې، د اوبو او انرژي سرپرست وزیر د نوموړي شرکت له مرستیال څخه و غوښتل چې په هرات ولایت کې د ۲۰۰ میگاواټه بادي برېښنا او د سروبې دوهم بند د پروژو عملي چارې ډېر ژر پیل کړي.

په ورته مهال، د یاد شرکت مرستیال په دغه لیدنه کې د اوبو او انرژي وزارت د رهبري مقام له همکاري څخه د منې ترڅنګ، وویل چې ډېر ژر به په هرات ولایت کې د ۲۰۰ میگاواټه بادي برېښنا پروژې عملي چارې پیل کړي.

د یادونې وړ ده، چې څه موده وړاندې د اوبو او انرژي وزارت سرپرست وزیر د ۷۷ ترکي ودانیز شرکت له رئیس سره د هرات ولایت په کشک او گذرې ولسوالیو کې د ۲۰۰ میگاواټه بادي برېښنا د تولید په پروژه کې د پانگونې او د سروبې دوهم بند د جوړلو لپاره د همکاري هوکړه لیک لاسلیک کړ او ټاکل شوې ده چې په نږدې راتلونکي کې به یې عملي چارې پیل شي.

سرپرست وزارت آب و انرژی با مسئولین گروپ شرکت های قراردادی پروژه لین انتقالی برق دشت الوان الی شبرغان دیدار کرد

محترم ملا عبداللطیف منصور سرپرست وزارت آب و انرژی با محترم ذبیح الله اختری مسئول شرکت سادات زاده و شماری دیگر از مسئولین گروپ شرکت های قراردادی پروژه لین انتقالی برق دشت الوان الی شبرغان دیدار نموده پیرامون حل مشکلات پروژه متذکره بحث و تبادل نظر نمودند.

سرپرست وزارت آب و انرژی به مسئولین شرکت های یاد شده اطمینان داد که جهت حل مشکلات پروژه متذکره، موضوع به کمیسیون اقتصادی پیشنهاد خواهد شد تا کمیته مشخص جهت بررسی وضعیت و حل مشکلات آن توظیف گردد.

پکتیکا ولایت کې د ۱۵ پروژو چارې ۹۰ سلنه بشپړې شوې دي

د گوملې سیندیزې فرعي حوزې مسؤلینو د پکتیکا ولایت په نکه ولسوالي کې د ۱۵ پروژو (استنادي دیوالونو، چکډمونو، ترینچونو او د کاریزونو پاکاري) د چارو له بهیر څخه څارنه وکړه او اړوندو مسؤلینو ته یې د چارو د غوره پرمخ وړلو په موخه اړین هدایات ورکړل.

د دغو پروژو چارې چې د یو سلو اویا زره او اووه سوه(۱۷۰۷۰۰) آمریکایي ډالرو په ارزښت د نارویژن موسسې له لوري پرمخ وړل کېږي، او گڼو کسانو ته پکې د کار زمینه چمتو شوې ده او چارې یې ۹۰ سلنه پرمخ تللې دي.

ټاکل شوې ده چې نوموړې پروژې په نږدې راتلونکي کې گټې اخیستنې ته وسپارل شي.

بسم الله الرحمن الرحيم

نحمده و نصلی علی رسوله الکریم. اما بعد

دوکتور فاروق أعظم

په ۳ وړي ۱۴۰۲ هـ ش ما د عربي اماراتو په دبی ښار کې ، د امریکا یوې عالیرتبه ډپلوماتې سره د هغې په غوښتنه ولیدل. د هغې اوله خبره داوه چې زه ستا څخه د یو مشر او په مسائلو د آګاه څوک په حیث غواړم پوه سم چې افغانستان اوس په کوم حالت کې دی؟

ما ورته وویل: افغانستان یو زخمي هېواد دی چې د خپل بېشماره پرهارونو په پټې کولو اخته دی؛ څرنګه چې ټوله زخمونه یو واري نسي پټې کېدای، نو له هغو زخمونو چې لا پټې نه دي د ناروغ نالش او شکایت دی. دا به وخت اخلي. دا زخمونه تر ډیره حده د پردیو د ګذارونو او تر یو حده زموږ د نارسائیو نتیجه ده. یو وار ۱۴ کاله شوروي او د وارسا پکت د افغانانو پر کمزوري بدن بې رحمه وارونه وکړه او بیا امریکا او ناټو ښهٔ په درز پکې غورځېدل. په دې ډول په تېرو څلورو لسیزو کې په حقیقت کې ټولې دنیا دا مظلوم قوم په ډېرو ویشتلی دی. دا چې افغانانو د پردو له حملو او ډېرو ځانونه ولې نه دي ساتلي، یوه لویه موضوع ده چې افغانان یې باید جدي وڅېړي چې بیا تکرار نه سي. خو اوس حقیقت دادی چې افغانستان زخمي دی. ددې ټولو ناخوالو سره، اوس فرصتونه هم سته او ننګونې هم. فرصتونه دادي:

(۱) اوس په افغانستان کې امن دی؛ داسې امن چې تېرې څلور لسیزې نه و. داسې کلی په ټول افغانستان کې نسته چې د امارت تر تسلط لاندې دې نه وي.

(۲) امارت خپلو دښمنانو ته عفو کړې ده؛ داسې عفو چې د غرب تاریخ یې مثال نلري.

(۳) قوي مرکزي حکومت اوس موجود دی. هغه وختونه اوس نسته چې والي به د ولسمشر امر نه مانه او عسکر به د خپل اعلی سرقومندان په قوماندې نه و.

(۴) د قدرت جزیرې اوس نسته. هغه کسان اوس وجود نلري چې هم به د حکومت په سر کې ناست وه؛ او هم به یې د حکومت د مخالف په توګه په زور په حکومت کې نوره برخه غوښته او له حکومته یې یو ناکام سهامي شرکت جوړ کړی و.

(۵) اوس د تېر نظام مامورین پخپلو پخوانیو دندو کې کار کوي. په تېر دوه کاله کې خلک په تېر نظام کې د کار په جرم له دندې نه دي لیرې سوي. د امارت دغه پالیسی د هېواد په استقرار کې لوی کردار اداء کړی دی.

(٦) په تېر شل کلن نظام کې جنګ په پښتني سیمو کې و؛ او حکومت کې اکثریت کارکوونکی له اقلیتونو څخه وه د حکومت په سقوط سره د تېر نظام د سر خلک وتښتېدل او نور مامورین پر خپلو دندو کماکان پاته دي. یو شمېر پښتانه چې پخوا محروم وه، ورسره یو ځای سول. اوس نظام تر پخوا ډېر د ولس په سطحه همه شمول دی.

(۷) د مخدره موادو منع. پخوا افغانستان د دنیا ٪۹۲ تاریاک تولیدول. دغه کښت نه شوروي او نه امریکا و ناټو ختم کړ؛ خو اوس دا تقریبا په نیشت حساب دی

(۸) د معتادانو راټولول او هغوی تر تداوي لاندې نیول. افغانستان پخوا په میلیونو د مخدره موادو معتادان درلودل. تېر رژیم وو چې د ډالرو پر باران و؛ خو دغه مهم ملي ناورین ته یې توجه ونکړه. امارت ټول دغه معتادین چې اکثریت یې هزاره او تاجیک دي، راټول کړیدي، تر تداوی لاندې یې نیولي او کسبونه په زده کوي چې سبا د خپلو کورنیو او ټولنې ګټور غړي وي.

(۹) د سوالګرو راټولول. په پخواني نظام کې د سوالګرو یو لوی لښکر و چې د هرې نانوایي مخې ته به په لسهاؤ ښځې ناستې وې، چې که یو څوک ډوډی رانیسي، دوی ته هم یوه په خیر کې ورکړي. امارت دا ټول راټول کړل؛ حرفوي سوالګر یې بېل او واقعي غریبو ښځو ته یې کور کې معاش مقرر کړ.

(۱۰) په تېر نظام کې د امریکا او نړیوالو

بې حسابه پیسه د یو څو کسو افغانانو لاس کې وه. دوی په بازار کې نرخونه ډېر لوړ کړي وو؛ دا ځکه دوی په هره لوړه بیه د ضرورت شیان رانیولا سوای. خو اکثریت ولس په دغسې لوړ نرخ د شیانو د رانیولو توان نه درلود. مجبورا به که د دولت کارمندانو، فساد کاوه؛ نورو به فقر یا غلا کول چې حد اقل معیشت ځان او اولاد ته برابر کړي. او که دا ټول یې نه کول نو به یې په سخت حالت کې ژوند تېراوه او ځینو خو به د کورنۍ د روزۍ د پیدا کېدو د مسؤلیت له تېښتې نشې ته مخ کول. اوس دغه فاسده شیطاني اسطوره تر ډېره حده قابو شوې ده.

(۱۱) په افغانستان کې دوامداره بې رحمه جنګ یو زیات شمېر ځوانان د جنګ په دواړو خواؤ کې معیوب او معلول کړي دي او بې شمېره کونډې او یتیمان یې امارت ته په میراث پرې ایښي دي. امارت یو ابتکار کړی دی چې د تېر نظام معلول عسکر چې په حقیقت کې پرون په تاوده سنګر کې ددوی دښمنان وه، اوس په غېږ کې نیولي دي او د خپلو مجاهدینو د معلولینو په شان معامله ورسره کوي. همداراز یې د تېر رژیم د عسکرو کونډې او یتیمان خپل بللي دي؛ او پخپلو محدودو مالي منابعو یې مساوي پالنه کوي. دا هغه رواداري ده چې نړیوالې ټولنې تر اوسه نه ده درک کړې. نو ځکه مرسته هم نه ورسره کوي، سره له دې چې دغه کار خاص یو بشري موضوع ده او په سیاست پورې اړه نلري. دنیا باید په خلاص مټ همکاري کړې وای.

ما ورته وویل چې د امارت د مثبتو او قوي نکاتو لیست اوږد دی؛ خو دا څو مې د مثال په ډول درته ذکر کړل. اما ددغو قوي نکاتو څنګ ته امارت ځینې کمزورياني هم لري.

دا کمزورياني اکثره د نړیوالې ټولنې د کمزورو پالیسیو زیږنده دي او تر ډېره حده پر امارت تحمیل سوې دي، لکه:

د جنګي ماحول دوام. امریکا او ناټو خپل عسکر وابستل خو جنګي ماحول یې تر اوسه نه دی ختم کړی. سره له دې چې د تېر نظام د سقوط له لومړۍ ورځې امارت د نړیوالو سره په ډېرو موضوعاتو کې د تعاون او تفاهم لار غوره کړې ده؛ خو نړیوالې ټولنې بالمثله اقدام نه دی کړی. برعکس، د امارت د مشرانو پر سر د امریکا ډرون اوس هم ګرځي، نومان یې له تور لېسته نه دي لیرې سوي، د افغاني بانکونو فعالیت یې مختل کړی دی، اقتصادي بندیزونه یې لګولي دي، د غرب ټوله میډیا د پخوا په شان د امارت خلاف تبلیغات کوي او هر هغه چا ته موقع، فنډ او پیسه ورکوي چې د امارت خلاف پروپاګنډ کوي. او تر ټولو بده دا چې غرب له افغانستان څخه د کار قوه، استعدادونه او مسلکي و فني کدرونه تر یو منظم پروګرام لاندې اغوا کوي څو افغانستان بیا پر پښو ونه درېږي. دغه حالت دواړو خواؤ ته جنګي ادبیات او شعارونه په سوله ییزو ادبیاتو او عمراني شعارونو لا تر اوسه نه دي بدل کړي.

د حالاتو له بررسي (څېړنې) او تجربې او د پورتنيو موادو او کومې تجربې چې په لاس راغلې په پام کې نيولو سره، داسې يو فرصت او وخت رارسيدلی دی، چې د افغانستان اسلامي امارت د پاليسيو او موخو او د برېښنا د ماسترپلان د پلي کولو لپاره، پر اوسنيو اقتصادي او تخنيکي شرطونو باندې ولاړ، په انرژي سکتور کې د متوازنې او اقتصادي ودې ضمانت کوونکی پنځه کلن انکشافي پلان (۱۴۰۲ـ۱۴۰۶)هـ ش ترتيب شوی دی. چې د هغه د تطبيق (پلي کولو) او د لوی خدای ج په مرسته هغه وخت رارسېدلی دی چې د اوسنی برېښنا د کمښت ننګونې له منځه لاړې شي او هيله ده چې پهٔ کورنيو سرچېنو کې د پام وړ وده او پراختيا را منځته شي. همدارنګه به په خپل وخت سره د انکشافي پلان د پلي کېدو پر بنسټ له داخلي سرچېنو څخه د برېښنا کچه لوړه او د خلکو د لاس رسي سلنه به هم لوړه شي او د برېښنا په صرفيه تعرفو (لګښتي تعرفو) کې به هم کموالی رامنځته شي. د يادونې وړ ده چې د انکشافي پلان په تطبيق او د ښو خدماتو په وړاندې کولو سره به په د خلکو باور د افغانستان پر اسلامي امارت لا زيات شي، ځکه چې په تېرو کلونو کې د هېواد اوسيدونکي د برېښنا د انرژي د کمښت او نشتوالي سره مخامخ وو.

د لومړی او دوهمې شمېرې جدولونه په هېوا د کې د شته تأسيساتو او د برېښنا د انرژي د توليد او تورید د برېښنا د اندازې، ښوودونکي دی.

له څخه تر ۱۴۰۰ کلونو پورې په افغانستان کې د برېښنا انرژي د توليد او تورید ميزان

د داخلي او وارداتي برېښنا انرژي د توليد مجموعه	په ۱۳۹٦ کال کې د ۲۰۱۷ کال سره برابر، توليد شوې او تورید شوې انرژي (ميګاوات ساعت)	په ۱۳۹۷ کال کې د ۲۰۱۸ کال سره برابر، توليد شوې او تورید شوې انرژي (ميګاوات ساعت)	په ۱۳۹۸ کال کې د ۲۰۱۹ کال سره برابر، توليد شوې او تورید شوې انرژي (ميګاوات ساعت)	په ۱۳۹۹ کال کې ۲۰۲۰ کال سره برابر، توليد شوې او تورید شوې انرژي (ميګاوات ساعت)	په ۱۴۰۰ کال کې د ۲۰۲۱ کال سره برابر، توليد شوې او تورید شوې انرژي (ميګاوات ساعت)
د اوبهې برېښنا توليد	969,158	735,010	1,099,409	1,035,640	1,193,997
د ډيزلي او حرارتي برېښنا توليد	55,475	90,460	84,733	192,820	251,714
د لمريزې برېښنا توليد	2,688	4,059	22,268	59,040	69,678
توريدي « وارداتي » برېښنا	4,542,307	5,006,116	4,630,584	5,000,670	5,151,608
په افغانستان کې د برېښنا انرژي د مصرف مجموعه (ميګاوات ساعت)	**5,569,628**	**5,835,644**	**5,836,994**	**6,288,170**	**6,666,998**

د ترتيب شوي انکشافي پلان ليد لوری:

- په تخنيکي او اقتصادي شرايطو ولاړ د برېښنا انرژي سکتور متوازن (برابر) انکشاف.
- د برېښنا انرژي د کمښت ستونزې لپاره د حل لاره.
- برېښنا انرژي ته د خلکو د لاس رسي ډېروالی.
- کم ودې ولايتونو ته د برېښنا رسونه.
- د برېښنا انرژي د ضايعاتو او د انرژي د صرفيه تعرفو کمښت.
- د انرژي د ليږد - توزيع - واردات او صادارت د توازن او بيلانس ساتنه.
- د هېواد د برېښنا ماستر پلان د موخو تطبيق (پلي کول)
- برېښنا په سيمه ييز مارکېټ کې د برېښنا د پانګونې فعال رول.
- د پانګونې جذبول د برېښنا د انرژي په مارکېټ کې.

په انکشافي پلان کې د موخو او فعاليتونو وېشنه

د ۱۴۰۲ څخه تر کلونو لپاره د افغانستان د برېښنا انرژي سکتور پنځه کلن پلان د تېرو پلانونو د تطبيق او تجربو او د هېواد د برېښنا د سکتور د بنسټيزو لومړيتوبونو او اړتياوو سره سم په لاندې څلورو برخو وېشل شوی دی.

شمېره	موخه	فعالیت	شاخص	پایلې
۱	د زېرېښاوو وده	۱ـ د برېښنا انرژي تولیدي دستګاوو جوړول ۲ـ د لېږد د لینونو تمدید ول ۳ـ د سب سټیشنونو جوړول ۴ـ د توزیعي شبکو تمدیدول	د برېښنا د ۱۳۷ تولید، لېږد او توزیعي شبکو د پروژو تطبیق او بشپړول	۱ـ د هېواد له داخلي سرچېنو څخه ښه کار اخیستل. ۲ـ د هېواد د برېښنا د کمښت له منځه وړل او پراختیا ورکول. ۳ـ د هېواد برېښنا سیستم متوازنه (برابره)وده. ۴ـ د هېواد له داخلي سرچېنو څخه د برېښنا تولید او ځان بسایني ته رسیدل. ۵ـ د ډاډ وړ برېښنا ته د خلکو د لاس رسی ډېروالی. ۶ـ د ملي عوایدو لوړول.
۲	د برېښنا د انرژي سیمه ییز تجارت	۱ـ د کاسا یک هزار پروژې د تطبیق مدیریت ۲ـ د TAP پروژې د تطبیق مدیریت ۳ـ د نویو پروژو پلټنه	د دوو سیمه ییزو پروژو د تطبیق مدیریت	۱ـ د هېواد له تجارتي او جغرافیاوي فرصتونو څخه لوړه ګټه اخیستنه. ۲ـ د ملي عوایدو لوړول. ۳ـ له ګاونډیو هېوادونو سره د اړیکو ټینګول.
۳	د پخوانیو جوړ شویو تأسیساتو مطالعه او بیا رغول	۱ـ سروي او مطالعات ۲ـ د فعالیتونو او ودې د نه شتون د لاملونو پیدا کول ۳ـ د دوهم ځل لپاره د فعالولو وړاندېز ۴ـ د تأسیساتو څخه د ښې کارونې د لارو پیدا کول	د (۲۰۰) پروژو مطالعات	۱ـ له تأسیساتو څخه د کره معلوماتو را ټولول. ۲ـ د فعالیتونو او ودې د نه شتون د لاملونو تحلیل او بررسي. ۳ـ د دوهم ځل لپاره د فعالولو وړاندېز ترتیبول. ۴ـ په راتلونکو پروژو کې د نه کولو د لاملونو په پام کې نیول. ۵ـ د سیمې او ملي شبکې ته د خلکو د لاس رسي ډېروالی. ۶ـ د ملي عوایدو او د خلکو د ژوند د کچې لوړېدل.
۴	د برېښنا د انرژي سکتور سازماني مدیریت	۱ـ د نوي مدیریتي سیستم لپاره طرحه جوړول ۲ـ د سکتور رهبري ۳ـ د اړوندو ښستونو تر منځ همغږي او مدیریت ۴ـ د تقنیني اسنادو ترتیب او بیا کتنه	د اړوندو ښستونو تر منځ همغږي او د انرژي سکتور رهبري او مدیریت	۱ـ له پخوانیو تجربو څخه په ګټې اخیستنې سره د سکتور ښه مدیریت او رهبری« مشري»، ۲ـ د ملي او نړیوالو ښستونو تر منځ د همغږي پیدا کول. ۳ـ د نا اړینو خنډونو له منځه وړل او د حقوقي مواردو اساتیا. ۴ـ له شته فرصتونو او سرچېنو څخه غوره ګټه اخیستنه. ۵ـ ملت او چارواکو ته خواب ورکول.

1. له کورنیو سرچېنو څخه د برېښنا انرژي د تولید پلان شوې پروژې

له کورنیو سرچېنو څخه د برېښنا انرژي د تولید پلان شوو پروژو په لړ کې 24 پروژې غوره شوې دي. چې ۱۸ پروژې په پنځه او له پنځه کلونو څخه په کمه موده کې پشپړې شي. دا پروژې اوبېزې، لمریزې، بادي او حرارتي دي.

2. د لېږدونکو مزیو د تمدید (اوږدوالي) برخه

پنځه کلن انکشافي پلان کې د لېږد مزیو ۱۳ نیمګړې پروژې بشپړول او ۲۳ پلان شوې پروژې په پام کې نیول شوې دي.

3. د سب ستیشنونو د جوړولو برخه

پنځه کلن انکشافي پلان کې ۲۱ تر کار لاندې د سب ستیشنونو پروژې شاملې دي، چې باید بشپړې شي او ۲۱ پلاني پروژې په بېلابېلو ولایتونو کې په پام کې نیول شوې دي.

4. د توزیعي (خپرونکي) شبکې جوړونې برخه

پنځه کلن انکشافي پلان کې ۳۵ پلاني پروژې په بیلابیلو ولایتونو کې په پام کې نیول شوې دي.

د برېښنا انرژي د سیمه ایز تجارت برخه

برېښنا انرژي سیمه ایز تجارت برخه کې دوه مهمې پروژې کاسا ۱۰۰۰ او TAP شامل دي.

د برېښنا انرژي پنځه کلن پلان له تطبیق وروسته پایلې

- **له کورنیو سرچینو څخه د برېښنا تولید:**

دا مهال په هېواد کې له کورنیو سرچینو څخه د برېښنا د تولید د شته فابریکو ظرفیت ۶۷۷.۹ میګاواټه دی، چې ډېره برخه یې د اوبو له سرچینو څخه ده. او په راتلونکو پنځو کلونو کې به له بېلابېلو کورنیو منابعو (اوبو، سولر، حرارتي) څخه د پنځه کلن پلان جوړونې پروژې په پلي کېدو سره د ناصبه تولید ظرفیت ۸۵۶ میګاواټو ته لوړ شي، چې د تطبیق لپاره به یې میلیونونو ډالرو ته اړتیا وي.

- **د برېښنا د لېږد لینونو برخه کې:**

اوسمهال په هېواد کې په بېلابېلو ظرفیتونو کې شاوخوا ۳۰۷۲.۳ کیلومتره لینونه شتون لري، چې د پنځه کلن پلان له مخې د پلان جوړونې د پروژو په پلي کېدو سره به ۴۸۱۵.۸ کیلومتره نور لین هم وغځول شي، چې ۱۲۴۴.۳ میلیونه امریکایي ډالرو ته اړتیا لري.

- **د سب ستیشنونو په جوړولو کې:**

د سب ستیشنونو په اړه، دا مهال شاوخوا ۲۶۴۷ میګاولټ امپیر نصب شوي چې په راتلونکو پنځو کلونو کې به د پلان شوي او بند پاتې پروژو په پلي کولو سره شاوخوا ۱۹۷۴میګاولټ امپیر ته لوړ شي، د تاسیساتو د جوړولو بیه به ۲۸۷.۹ میلیونه امریکایي ډالره وي، چې پروژو له تطبیق وروسته به یې تولیز ظرفیت ۴۶۲۱۰میګاواټه امپیره وي.

- **د توزیع شبکې برخه کې:**

د هېواد د برېښنا د وېش د شبکو اوسنی نصب شوی ظرفیت شاوخوا ۴۴۰۰ میګاولټ امپیر دی چې په راتلونکو پنځو کلونو کې به ۶۵۷ میګاولټ امپیره ته لوړ شي. چې۲۶۲.۸میلیون ډالرو ته اړتیا لري.

جدول (۱۰) د انکشافي پلان د پلي کېدو څخه وروسته شته تأسیسات او د هغوی دېروالی

شمېره	دبرېښنا انرژي تاسیسات	د شته ناصبه « خای پرخای» شویو ظرفیت «وړتیا»	دپلانی ناصبه ظرفیت «وړتیا»	د پلان شویو تأسیساتو قیمت « بیه» په میلیون ډالرو	د ټولو پروژو د تطبیق « پلی کېدو » څخه وروسته ټول ظرفیت	د ډېر والی سلنه	په راتلونکو پنځو کالونو کې د پلان شوی ظرفیت دېروالی	په راتلونکو پنځو کالونو کې د تأسیساتو قیمت په میلیون ډالرو	په راتلونکو پنځو کلونو کې د دېروالي سلنه
۱	د تولید سرچېنې	677.9 (MW)	2,515.6 (MW)	1,398.5	3,193.53 (MW)	371.1 %	856 (MW)	2,156.7	126.2%
۲	سب ستیشن	2,647 (MVA)	1,974(MVA)	287.9	4,621.0 (MVA)	74.6 %	1,974 (MVA)	287.9	74.6 %
۳	توزیعي شبکه	4,400 (MVA)	657 (MVA)	262.8	5,057.0 (MVA)	14.9 %	657 (MVA)	262.8	14.9 %
۴	د لېږد لین	3,072.3 (KM)	4,815.8(KM)	1,244.3	7,888.01 (KM)	156.7 %	4,816 (KM)	1244.3	156.7 %
	دپنځه کلن انکشافي پلان د تطبیق لپاره د اړتیا وړ ټول مبلغ (پیسې)			5,193.41				3,951.61	

د انکشافي پلان د تطبیق څخه وروسته د شته تاسیساتو دېر والی او د هغه کراف

د پنځه کلن پلان انتظاري پایلې

- د شته شبکې سره برابر د برېښنا انرژي د کمښت بشپړتیا
- د وارد شوې برېښنا د کمښت او ځان بسایني ته د رسیدلو په موخه د کورنیو سرچېنو څخه د برېښنا انرژي تولید.
- د کورنیو سرچېنو په باور سره د اضافي برېښنا انرژي دېروالی.
- له ملي شبکې سره د یو شمېر وروسته پاتې ولایتونو نښلول.
- د هېواد د صنایعو د پراختیا او ودی په موخه د وړتیا او توان منونکې انرژي سیستم برابرول.
- په هېواد کې د برېښنا انرژي وېش، لېږد او تولیدي وړتیا د بیلانس جوړونه.
- په برېښنا انرژي سکتور کې د ډاډ مني فضا او د کورنیو او باندینیو پانګونو جذبول.
- د سیمه ایزې تجارتي انرژي له لارې
- له ګاونډیو هېوادونو سره د اړیکو ټینګښت.
- د ملي عوایدو لوړول.
- د هېواد اوسیدونکو ته د برېښنا رسوني د ښو خدمتونو وړاندې کول.
- له کورنیو سرچېنو څخه د برېښنا د صرفیه تعرفو کمښت .
- د هېواد د برېښنا مارکېټ د سرچېنو ښه والی او مدیریت.
- د هېواد د برېښنا سکتور د مدیریتي سیستم نوی والی.

نقشه خطر سیلاب در حوزه های دریایی کشور

انجنیر همایون "خوشنود"

سیل یکی از بلا های طبیعی بوده که می تواند زیر ساخت های شهری ، قریه ، جان و اموال اهالی منطقه را با خطر مواجه کند. هدف از انجام این تحلیل تشخیص ساحات آسیب پذیری سیلاب جهت مدیریت خطر سیلاب، حفظ محیط زیست، رشد اجتماعی ، اقتصادی وکاهش خسارات ناشی از وقوعات سیلابی میباشد. معمولاً وقوعات سیلابی توام با تلفات جانی و مالی بوده است. مطالعه، بررسی و شناخت این پدیده در محل ها و مکان هاي مختلف توانایی افراد را در برخورد با آن و همچنان آمادگی قبلی و یا پیشگیري از افزایش خسارات جانی و مالی افزایش می دهد. در مورد سیل تعریف های متعددی وجود دارد از جمله سیل عبارت موج بزرگ آب وجریان بسیارشدید است که بیرون ازبستراصلی دریا به حرکت میآید وبه دلیل نیروی که دارد هرآنچه راکه برسرراه دارد باخود میبرد. یعنی بعداز یک بارندگی شدید ، مقدار جریان آب دریا ها به سرعت افزایش یافته و درنتیجه آب از بستر عادی خود سر ریزه نموده و دامنه سیلابی و مناطق اطراف را تحت تاثیرقرارمیدهد و یا هرگاه مقدار جریان آب از اوسط طویل المدت اضافه باشد بنام سیلاب یاد می شود. و یا به عبارت دیگر سیل به وضعیت گفته می شود که در آن جریان دریا و سطح آب بصورت غیر منتظره افزایش پیداکرده که باعث خسارات مالی و جانی می گردد. برای علمای هایدولوژی سیلاب عبارت از جریان زیاد آب که در حوزه های آبی بالاتر از سطح انتخاب شده بستر دریا با سرعت و شتاب زیاد به جریان می افتد و تخریبات ضمنی را با خود دارد. سیل به جریان اعظمی گفته میشود که با بلند شدن سطح آب از بستر طبعی خود زمین های اطراف اش را معمولا زیر آب میسازد. و یا به عباره دیگر سیل به جریان آبی گفته میشود که از بستر اصلی مجرای آبی لبریز شده و به اراضی مجاور سرازیر میگردد.

در بین آفات طبیعی بالاترین خسارات و تلفات انسانی در افغانستان به سیل تعلق دارد. طوریکه از اول حمل الی 31 جوزا سال 1402 در مجموع به تعداد 113 واقعه سیلابی در سطح حوزه های دریائی کشور رخ داده است که ثبت دیتابیس شده است.

سیل در افغانستان در دوره زمانی14 ساله از سال (1388 الی 2 140) نشان میدهد اینکه جاری شدن سیلاب ها در بسیاري از ولایت هاي افغانستان افزایش یافته است. قسمیکه در برخی از حوزه های دریائی کشور بر اثر تاثیرات تغییر اقلیمی و به دلیل بلند رفتن درجه حرارت باعث ذوب شدن یخچالهای طبیعی شده ، در نتیجه آن سیلاب ها سرازیر میگردد. و خسارات جانی ومالی زیادی به مردم منطقه وارد می نماید. و همچنان در موسم بارندگی ازاثر بارندگی های شدید در نقاط مختلف کشور سیلاب ها رخ میدهد. طوریکه بتاریخ 1399/6/5 در حوزه فرعی دریائی غوربند (شهرچاریکار) سلاب ها از سه جهت (دره کلان، دره چپ قول اوپیان شریف و دره خواجه سیاران بالا) از اثر بارندگی های شدید سسرازیر گردیده که درنتیجه آن تلفات جانی ومالی را در قبال داشته است.

همچنان در سال 1397 طبق راپور و سروی ساحوی تیم تخنیکی وزارت انرژی و آب در دره پیشغور ولایت پنجشیر از اثر بلند رفتن درجه حرارت باعث شکست جهیل کُنج وناشی از آن سیلاب رخ داده بوده که علت اساسی شکست جهیل یخچالی کُنج را قرار ذیل خلاصه نموده اند:

بلند رفتن درجه حرارت ؛ تغیرات اقلیمی (گرمایش زمین) ؛ فشار جانبه احجار میتا مارف و یخچال بزرگ موجود در ساحه.

ذوب سریع یخچال های پوشیده در ساحه و نشست زمین به ارتفاع 4متر عامل اساسی شکست دیوار یخچالی سمت شرقی در دو طرف جهیل یخچالی بنام جهیل کنج اولی و جهیل کنج دومی گردیده است.

قسمت بالای و پایینی آبریزه کنج بنابر بر ذوب شدن سریع یخچال های پوشیده در ساحه و احجار متحوله (میتامارفیک راکس) که قوه جذب حرارت و شعاع آفتاب را نسبت به سایر احجار دارا میباشد میتوان به عنوان فکتور اساسی در تشدید ذوب یخچال های موجود ؛ پوشش برف در فصل زمستان و احتمال وقوع سیلاب های ناشی از ذوب یخچال ها و برف های فصلی و دایمی در آینده سرعت می بخشد.

وقوع سیلاب از اثر شکست جهیل یخچالی گنج در دره پشغور ولایت پنجشیر سال ۱۳۹۷

و همچنان در دره پیشغور مورخ ۱۷۰۴۱۴۰ از اثر ذوب شدن یخچالها سیلاب ها جاری گردیده که خسارات جانی و مالی را نیز در قبال داشته و مردم محل از اثر این حادثه طبیعی زیان های مالی وجانی زیاد را متقبل شدند .

در سال۱۴۰۱ به تعداد۴۱۴ واقعه سیلابی در حوزه دریائی کابل ثبت گردیده است. و از طرف دیگر حوزه های دریایی تا اکنون انواع سیلاب های ذیل را سپری و تجربه نموده، که قرار ذیل خلاصه میگردد:

- سیلاب های دریائی River Flooding: در دریا های بزرگ بصورت تدریجی آب آن اضافه شده و سطح آن بالا می آید و مدت زمان آن (بالا و پائین آمدن آب) از ۱۰ الی ۲۰ روز و یا بیشتر از آن دوام می کند .خاصتاً زمانیکه آب چندین دریا با هم یکجای گردد و در عین زمان بنابر ریزش باران حجم آب اضافه میشود. شکل(۱)
- سیلاب های مسطح و هموار Flash Flood: با بلند آمدن آب بطور یکنواخت و مسطح بعد از ریزش باران های شدید بوجود می آید، سرعت آن زیاد بوده و خطر به حاصلات زراعتی کشور می شود. سیلاب های که از باران های شد ید بوجود می آید بارندگی های شدیدی مونسون باعث سیلاب های مدهش شده و به ظرفیت زیاد سیلاب های محلی را تشکیل می دهد .
- سیلاب جهیل های یخچالی Ice - jam and Ice – Break – up Floods: ذوب شدن برف ها بصورت آنی و ذوب شدن یخچال ها در نقاط مرتفع کوهستانی باعث بوجود آمدن سیلاب های می شود که به اطراف خود جریان پیدا کرده از دره ها سرازیر می گردد، و در پائین دره باعث انتشار سیلاب مسطح و هموار می شود. این گونه سیلابها چنین است که در اثر شکستن یخها و فشرده شدن آنها به همدیگر در یك نقطه از دریا، بند موقت تشکیل میشود سطح آب در آن به طور ناگهانی بالا میرود. عموماً این نوع سیلاب در نقاط محدود شده، همانند قوسهای تیز دریا ها، محل تقاطع پلها ایجاد میشوند. آنها ممکن است در محل تغییر میل دریا (از میل تند به میل ملایم) و در نقطه تخلیه دریا به دریاچه نیز پدیدار شوند. در شرایط تشکیل بند در اثر فشردگی یخ، غالباً افزایش ارتفاع سطح آب سریع بوده و در نتیجه هایدروگراف سیلابهای بدست آمده در بعضی اوقات خیلی تیزتر از سیلابهای ذوب برفی ، میباشد. شکل (۱)

وقوع سیلاب از اثر بارندگی های شدید در حوزه دریائی کابل.

وقوع سیلاب از اثر بارندگی های شدید در حوزه دریائی هلمند.

وقوع سیلاب از اثر شکست جهیل یخچالی شمین دره ولسوالی فرخار ولایت تخار در حوزه دریائی پنج امو

طوریکه ارقام و معلومات سیلابی حوزه های دریائی کشور نشان میدهد، در حوزه های دریائی (شمال ، هریرود و هلمند) وقوعات سیلابی از اثر بارندگی های شدید و همچنان در حوزه های دریائی کابل و پنج آمو وقوعات سیلابی از اثر ذوب شدن برف ها ، شکست جهیل های یخچالی و بارندگی های شدید رخ داده است.

بناً تهیه نقشه خطر سیلاب (flood hazard Map) در سطح حوزه های دریائی با استفاده از روش های علمی و اکادمی جهت مدیریت خطر سیلاب نیاز مبرم پنداشته میشود. دراینجا با استفاده از روش(Weighted overlay method) نقشه خطر سیلاب را در سطح حوزه های دریائی با درنظرد داشت ده پارامتر (درجه حرارت ، بارندگی ، پوشش گیاهی ، سرکها ، شفاخانه ها ، نفوس ، میلان ساحه ، ارتفاع ساحه ، ساحات یخچالی و دریا ها) مورد تحلیل و تجزیه قرار گرفته شده است. شکل (۱).

در این تحلیل ارقام بارندگی و درجه حرارت از سال۱۹۷۹ الی۲۰۲۰، شیب فایل جهیل های یخچالی و شیب فایل دریا ها را از ریاست آبهای سطحی ، ریاست عمومی منابع آب وزارت آب وانرژی، پوشش گیاهی را از شیب فایل های دفتر محترم FAO، نقاط شفاخانه ها ، نفوس و سرک ها از شیب فایل دفتر محترم AIMS و DEM-30 استفاده گردیده است. چارت(۱) خلاصه روش مطالعه جهت دریافت نقشه خطرسیلاب را در سطح حوزه های دریایی قرارذیل نشان میدهد.

چارت ۱-۱ نشان دهنده روش کاری جهت تهیه نقشه خطر سیلاب در سطح حوزه های دریائی کشور میباشد

شکل (2) نقشه خطر سیلاب را در سطح حوزه های دریائی کشور نشان میدهد.

تاثیرتغییر اقلیم، تغیرات مکانی و زمانی بارش(برف و باران) ،گرم شدن کره زمین ، آلوده گی منابع آبی ، آسیب پذیری سیستم های آبی و آفات طبعی از قبیل سیلاب وخشکسالی میتواند مشکلات اساسی مدیریت منابع آب به حساب برود. بلند رفتن درجه حرارت متوسط کرهء زمین چالش عمده کشورهای جهان بوده که در زمینه مطالعات مختلف سریعاً واضح میسازد که تغییرات اقلیم میتواند تاثیرات خودرا بالای کیفیت آب ، موجودیت منابع آب ، بلند رفتن سطح آب ابحار ،تغیرات در شکل بارنده گی وچگونگی رژیم برفی وهمچنان افزایش در شدت تکراریت سیلاب وخشکسالی ها بگذارد. از طرف دیگر چالش اساسی مانند طوفان های شدید باد ، شکست جهیل های یخچالها، و سرازیر شدن سیلاب ها ، لغزش زمین ، سونامی و آفات طبعی(سیلاب وخشکسالی) بوده، وبزرگترین خسارات مالی وجانی را سبب میگردد .تغییرات اقیلم بر شدت تکراریت سیلاب افزوده که باعث نگرانی میباشد.

حوزه های دریائی کشور به دلیل داشتن شرایط خاص و فضاهایي مناسب برای انجام فعالیت‌های اقتصادی محسوب مي‌شوند، همواره در معرض خطرات ناشي از وقوع سیلاب‌ها قرار دارند. ازاین رو در این مناطق خصوصیات سیلاب در دوره بازگشت‌های مختلف سیلاب حائز اهمیت فراوان خواهد بود. در بعضی حوزه های آبریز تغییر ناگهانی شیب از مناطق مرتفع به مناطق هموار در دهه اخیر شاهد سیل‌های متعدد و ویرانگری بوده، که اثرات جبران ناپذیر اقتصادی در حوزه های دریایی بجا گذاشته است.

جهت رسیدن به هدف این تحلیل از روش (Weighted overly method) و نرم افزار جی آی ایس استفاده صورت گرفته است. طوریکه در شکل (2) نتجه کلی تحلیل به وضاحت دیده میشود، خطر سیلاب را به سه گتگوری و به سه رنگ مختلف نشان داده شده که رنگ سرخ خطر زیاد (High Risk) ، رنگ نارنجی خطر متوسط(Medium Risk) رنگ زرد خطر کم (Low Risk) را نشان میدهد.

مهار سیلاب اعم از روشهای مستقیم وروشهای غیرمستقیم بمنظور برنامه ریزی ومدیریت سیلاب در مسیر دریا ها و مسیر سیلبر ها مهم پنداشته شده و بدون برنامه ریزی ومدیریت مداوم امکان دارد پس از گذشت زمان اثرات مورد انتظار آنها در طرح ریزی کاسته شده ودر بعضی موارد موجب افزایش وتشدید خسارات وتلفات می شود. از این رو ضرورت دارد اقدامات زیر در قالب مدیریت وبرنامه ریزی مسیر دریا ها و مسیر سیلبر ها انجام شود.

الف) پاکسازی مسیر سیلابی : پاکسازی سیلبر ها (راه سیل) فراهم نمودن ظرفیت کافی برای عبور سیلاب درمناطق بحرانی وخطر از جمله ضروریاتی است که همیشه باید در برنامه های مدیریت کاهش سیل مورد توجه قرار گیرد. شناسایی موانع درمسیر دریا ها وسیلبر ها ازقبل پل های احداث شده نامناسب ، تجاوز به حریم دریا ها و سیلبر ها ویا هر نوع تغییرات که منجر به کاهش ظرفیت عبور سیل می گردد. این امکان رافراهم می ساز تا جهت اصلاح ویا پاکسازی آنها برنامه ریزی ومدیریت جدی انجام گیرد. جابجایی وانتقال ساختمانها ، سکونتگاهها از مسیر دریا ها و سیلبر ها به مناطق امن ودور از خطر ازجمله مواردی است که در درازمد منافع اقتصادی، اجتماعی وزیست محیطی مفیدی به همراه دارد.

ب) سروی ساحوی از نقاط آسیب پذیر سیلاب : نکات بسیار مهم دراین بخش کنترل ونظارت دریا ها و سیلبر ها قبل از فصل سیلابی وشناسایی نقاط آسیب پذیر به خصوص نقاط که در شکل (2) شناسای گردیده است. دراین راستا درقالب برنامه ریزی ومدیریت مدرن توسط ارگانهای مرتبط در محدوده وظایف ، مسئولیت وعملیات پاکسازی وازادسازی بستر وشرایط عبور سیلاب را دربستر طبیعی فراهم کنند .

ج) نظارت بر اقدامات دریا ها : تدوین برنامه نظارتی برتمام اقدامات دریا ها درمسیر آبراهه ها وایجاد هماهنگی بین ارگان های مختلف اجرایی ورعایت ضوابط ومسایل فنی مربوط به تاسیسات ساختمان های آبی وهمچنین برداشتن مواد رسوبی از بستر مسیر سیلابی بسیار ضروری است.

د افغانستان د بریښنا انرژي سکتور ستونزې او حل لارې

انجینر رفیع الله وردګ

ستونزې:

د افغانستان وګړي په ډېره ټیټه کچه بریښنا انرژي ته لاس رسی لري، په تخمیني ډول دیرش سلنه وګړي د افغانستان بریښنا انرژي څخه برخمن دي ولې دا سلنه وګړي هم د نورو هېوادو په څېر ډاډمنې انرژي ته لاس رسی نلري. نو په همدې اساس بریښنا انرژي سکتور د هېواد په کچه له خورا سترو ننګونو سره مخ دی.له بلې خوا افغانستان د موجوده ضرورت وړ اتیا سلنه بریښنا انرژیله خپلو ګاونډیوو (ازبکستان، ترکمنستان، ایران او تاچکستان) هېوادونو څخه واردوي چې یاد هېوادونه د انرژي د سرچینیو، ځینو نورو تخنیکي او یا هم سیاسي ستونزو له امله وخت نا وخت د لاسلیک شویو قراردادونو په اساس انرژي نشي ورکولای چې د هېواد په انرژي سکتور کې د جدي ستونزو لامل کیږي.

بل هغه څه چې د انرژي سکتور یې له ستونزو سره مخامخ کړی د هېواد د بریښنا انرژي د رسونې سیستم ستونزې او نمګړتیاوې دي، د انتقال د ملي شبکې نه بشپړتیا، د توزیعي شبکو غیر معیاري غځونه او د بریښنا انرژي د سب ستیشنونو ، بریشنا کوټونو، توزیعي جنکشنونو او برجونو ستونزې او اضافه باري ددې لامل شوي چې د انرژي ضایعات له مجاز حد څخه څو چنده زیات شي او همدارنګه په غیر قانوني ډول د بریښنا انرژي څخه استفاده د انرژي سکتور ستونزې نورې هم زیاتې کړې دي.

یو له هغو ستونزو څخه چې د بریښنا انرژي سکتور د ودې او پراختیا په برخه کې یې یادونه کولای شو او اثرات یېلهٔ ورایه محسوسیږي هغه د انرژي سکتور لپاره د ملي او انکشافي پالیسیو نشتون او که ځینې قوانین، پالیسې او پلانونه موجود هم وي څرنګه چې لازمه ده په هغه شکل ندي عملي شوي. د بېلګې په توګه د انرژي خدمتونو د تنظیم قانون یادولای شو، چې د انرژي سکتور د پراختیا، انرژي سکتور بازار د تنظیم او افغانستان د انرژي سکتور په منطقوي بازار د بدلولو لپاره رامنځ ته شوی او د وخت د حکومت لخوا توشیح شوی په سمه توګه ندی تطبیق شوی، چې پایله یې د انرژي په سکتور کې د دولتي او غیر دولتي شرکتونو او کمپنیو د خپل سرو کړنو لامل شوی دی او د انرژي سکتور یې په هېواد کې له خورا بد حالت سره مخ کړی دی.

دا هم د یادونې وړده چې د تېر حکومت په وخت چې تېر شل کلونه یې په بر کې ونیول په ملیاردونو ډالر د انرژي سکتور په برخه کې مصرف شول، ولې پوښتنه داده، چې ولې بیاهم د هېواد انرژي سکتور د ځان بسایني تر حده ونه رسېدهٔ او لا هم ضرورت وړ اتیا سلنه بریښنا انرژي له ګاونډیو هېوادنو واردیږي، د بریښنا انرژي د انتقال ملی شبکه ونه رغول شوه او همدارنګه په نورو برخو کې جدی ستونزې موجودې دي، چې ددې ستونزو عوامل په لاندې ډول یادولای شو:

1- کله چې اسلامي امارت د امریکایي اشغال په نتیجه کې سکوت شو او په هېواد کې د اشغال تر سیوري لاندې نوې اداره رامنځته شوه، چې ورسره د بهرنیو سازمانونو له خوا د انکشافي پروګرامونو په موخه د کمکونو لړی هم پیل شوه، نو ددې کمکونو یوه برخه د بریښنا انرژي په برخه کې مصرف شوه. په لومړیو کې د غیر پلان شویو او تحملي پروګرامونو له مخې د هېواد په نظامي مرکزونو او د ولایتونو د مرکزونو د ضرورت وړ بریښنا انرژي د تامین په موخه ډیزلي جنراتور پاور پلانټونه په ډېره لوړه پانګونه جوړ شول چې وروسته دا پلانټونه د مالي فساد په لوی مرکز بدل شول هغه دا چې د پلانټونو د ضرورت وړ تیلو او نورو مصرفي موادو په قراردونو کې خورا لوی مالی فساد وجود درلود، چې داخلي او بهرني مفسدین پکې شریک وو. ولې اوس مهال ددې پلانټونو اکثریت یې د خورا لوړو مصارفولهٔ امله غیر فعال دي.

2- د کلیو او باندو د بریښنا رسونې په خاطر د کلیو د پراختیا پروګرامله لارې په زیاتره منطقو کې د 50 تر 250 کیلوټ

امپیر په ظرفیت د بریښنا انرژي ډیزلي جنراتورونه ووېشل شول په ځینو نورو سیمو کې د مایکرو هایدرو پاور تولیدي دستګاوې جوړې شوې چې د حفظ او مراقبت د پلان د نه موجودیت له امله یې اکثریت ضایع او یا هم غیر فعال دي.

3- د هېواد د بریښنا انرژي زیربنایي پروژو ته په لومړیو کې هیڅ توجه ونشوه که څه هم په ورستیو کې د ملی شبکې او ځینې مهم بریښنا سب استیشنونه ورغول شول، ولې د بریښنا انرژي د تولیدي دستګاوو په برخه کومه خاص توجه ونشوه چې پایله داده چې اوس هم د ضرورت وړ اتیا سلنه بریښنا انرژي له بهر څخه وارديږي.

4- په هېواد کې بد امنیتي وضعیت، مالي فساد، د انرژي سکتور په اداري جوړښتونو کې مدیریتي ضعف او د انرژي سکتور سره سلیقوي او سیاسي برخورد د انرژي سکتور د نه پراختیا مهم عوامل بلل کېدلای شي.

5- یوه بله لویه ستونزه په روانو حالاتو کې د وروستني سیاسي تحول نه وروسته د بریښنا انرژي د نیمه کاره پروژو نامعلوم برخلیک دي، نړیوالو مرستندویه او د بریښنا انرژي تمویلوونکو سازمانونو سیاسي برخورد او نیمه رغول شوې پروژې په یو نامعلوم حالت کې پریښودل هم له انصاف، بشري حقونو، او چاپیریال ساتنې له اصولو ډیره لرې خبره ده، او د بریښنا انرژي له سکتور سره چې په ټوله کې د یوې ټولنې عام وګړي اغېزمنوي لویه بې انصافي بلل کیدلای شي.

دا پورته یادې شوې ستونزې ددې لامل شوې چې د بریښنا انرژي سکتور په اوسنې بد حالت کې قرار لري. ددې ستونزو د حل لپاره یو میکانیزم جوړول او دا سکتور له اوسنی بد وضعیت څخه ژغورل د اسلامي امارت په چوکاټ کې د اوبو او انرژي وزارت او نورو فعاله ادارو او شرکتونو ګډ مسؤلیت دي. دا چې لیکنه ډیره اوږده نشي ځینې د حل لارې په لاندې ډول وړاندې کوم.

د حل لارې:

1. دا چې د اوبو او انرژي وزارت د انرژي سکتور په برخه کې پالیسیو، پراختیایي پلان جوړونې، د انرژي سکتور د پراختیا او بریښنا انرژي د بازار د مارکیټ د تنظیم مسؤلیت لري باید د سکتور د ژغورنې او پراختیا لپاره جدي هڅې وکړي او اوسنیو شرایطو ته په کتو منظم او عملي پلانونه تر کار لاندې ونیسي.
2. د بریښنا انرژي ماستر پلان چې د تیرې ادارې په وخت کې جوړ شوی دی او تر ډېره د بهرنیو مرستو په پام کې نیولو د انرژي سکتور پروژې او پراختیا پلان شوي دي، دا چې په اوسنیو شرایطو کې بهرنیو مرسته کوونکو خپلې مرستې او همکارې درولې دي نو باید د هېواد اوسنیو سیاسي او اقتصادي شرایطو ته په کتو نوی شي.
3. د بریښنا انرژي ماستر پلان جوړولو او د انرژي سکتور پراختیایي پلانونو په پلان او عملي کولو کې د نورو هېوادونو د انرژي سکتور پراختیا له بریالیو تجربو او سیاستونو څخه استفاده وشي.
4. هغه پروژې چې د جوړونې کارونه یې نه دې بشپړ شوي د پروژو اهمیت او ضرورت ته په کتو یې باید د جوړونې کارونه بیا څل شروع شي.
5. د بریښنا انرژي داخلي تولید ته باید جدي پاملرنه وشي، په هېواد کې د بریښنا انرژي د تولید د سرچینو په پام کې نیولو سره لنډ مهاله، منځ مهاله او اوږد مهاله پلانونه جوړ او عملي شي.
6. د انرژي سکتور د بازار په تنظیم او څارنه کې باید عملي کارونه تر سره شي تر څو د انرژي سکتور د پراختیا په برخه کې د خصوصي سکتور د پانګونې لپاره د آزاد رقابت سالم بازار رامنځ ته شي.
7. د اوبو او انرژي وزارت دې انرژي سکتور د تشکیل د معیاري کولو لپاره عملي ګامونه واخلي، په هېواد کې دې له څښته متخصصې انساني قوې څخه د انرژي سکتور د پراختیا لپاره ګټه پورته شي.
8. له بهرنیو مرستندویه او خصوصي سکتور سره د بیاخل اړیکو جوړولو په برخه کې د یو میکانیزم په اساس کار وشي تر څو د انرژي سکتور د پراختیا په برخه کې هغوي پانګونې ته وهڅول شي.
9. د بریښنا انرژي بازار باید د دولتي او خصوصي شرکتونوله انحصار څخه وژغورل شي.
10. د هېواد په کچه د بریښنا انرژي سکتور پراختیایي پلان باید د یوې واحدې مرجع (د اوبو او انرژي وزارت) له خوا جوړ او مدیریت شي.
11. دا چې بریښنا انرژي سکتور پراختیا مسلکي او هېواد ته متهعدو کدرونو ته ضرورت لري نو په دې اساس کار باید اهل کار ته وسپارل شي.

نقش ارزش های اخلاقی در مدیریت مشارکتی منابع آب

اخلاقی

با توجه به تغییرات اقلیمی، افزایش نفوس، خشک سالی های پیاپی و کاهش روز افزون منابع آب، بحران آب به عنوان یکی از معضلات بزرگ جهانی مطرح شده است. کشور عزیز ما افغانستان نیز از این امر مستثنی نبوده و منابع آبهای سطحی و زیرزمینی به ویژه در شهرهای بزرگ شدیداً در حال کم شدن می باشد.

تا اکنون اغلب راهکارهای که برای مدیریت منابع آبی در کشور ارائه شده به صورت فنی و تخنیکی بوده که با توجه به سنتی بودن جامعه افغانستان و عدم آگاهی استفاده کنندگان آب این راهکارها نتوانسته است به خوبی از استفاده بی رویه آب جلوگیری نماید بلکه با استفاده ناآگاهانه از تکنالوژی های نوین چون استخراج آب به واسطه سولر های آفتابی و غیره مشکل کاهش منابع آب را بد تر هم ساخته است.

برای حل معضل کاهش منابع آب و ترویج صرفه جویی آب نیاز است برعلاوه رویکرد تخنیکی و علمی رویکرد رفتاری نیز در نظر گرفته شود.

از آنجاییکه اکثر دهاقین و استفاده کنندگان آب در افغانستان از داشتن آگاهی تخنیکی برخوردار نیست اما با ارزش های دینی و اخلاقی با یک اعتقاد و باورمندی خاصی روبرو می شود از همین جهت اگر مدیریت و صرفه جویی آب برای آنها به صورت یک ارزش دینی، اخلاقی و اجتماعی معرفی گردد بیشتر موثر خواهد بود.

ادراک و آگاهی مردم از ارزش های دینی و اخلاقی باعث شکل دهی تصمیمات آنها شده و این تصمیمات معین می سازد که در استفاده و بهره برداری از منابع آب چگونه برخورد نمایند.

برای اینکه مدیریت مشارکتی منابع آب به صورت یک ارزش دینی و اخلاقی با رویکرد رفتاری در جامعه معرفی شود نیاز است تا یک سلسله اقدامات لازم از سوی حکومت، مبلغین دینی، اساتید پوهنتون ها، معلمان و سایر اشخاص آگاه جامعه روی دست گرفته شود که می توان به شماری از این اقدامات چنین اشاره کرد:

1. **آگاهی دهی و ایجاد نگرش:** به منظور افزایش رفتار مشارکتی حفاظت از آب، درک نگرش نسبت به حفاظت محلی از منابع آب حیاتی است، مشارکت مردم محلی در مدیریت و حفاظت منابع آبی در شرایط بحرانی راه حل ضروری و عاقلانه می باشد. با استفاده از برنامه های آگاهی دهی و برنامه های آموزشی ترویجی بر رفتار حفاظت از آب و آگاهی از قوانین آب باید برای مصرف کنندگان آب این نگرش ایجاد شود که مدیریت و حفاظت منابع آب یک ارزش دینی، اخلاقی و اجتماعی است تا استفاده کنندگان آب در قبال آن احساس تعهد دینی و اخلاقی نموده اهمیت حفاظت آن را بر نیاز های خویش اولویت بخشند.
2. **ایجاد حس مسئولیت پذیری و تعهد فردی:** معرفی مشارکت در مدیریت آب به عنوان یک ارزش اخلاقی سبب می شود تا در فرد تعهد فردی و حس مسئولیت پذیری ایجاد شود، و یقیناً زمانیکه فرد صرفه جویی آب را به عنوان یک مسئولیت و یک تعهد برای خویش بداند در مدیریت آب رضاکارانه اشتراک نموده و در هنگام استفاده آن نیز متوجه آن خواهد بود تا از استفاده بی رویه آن جلوگیری به عمل آید.
3. **ارزش اجتماعی:** انسان یک موجود اجتماعی بوده و بیشتر انسانها به صورت فطری تمایل به رعایت ارزش های اجتماعی دارد، به افراد دیگر که در جامعه به نحوی با وی در ارتباط می باشد اهمیت می دهد، به همین خاطر معرفی مدیریت و صرفه جویی آب به عنوان یک ارزش اجتماعی سبب می شود تا استفاده کنندگان به صورت دسته جمعی و گروهی در مدیریت مشارکتی آب سهیم شوند که این امر در حفاظت منابع آبی نقش به سزایی را برخوردار خواهد بود.

با توجه به موارد فوق می خواهم تاکید حرفم را روی موضوع آگاهی دهی داشته باشم و مجدداً یادآور می شوم که موضوع آگاهی دهی در شرایط کنونی با توجه به جامعه افغانی برای مدیریت بحران آب در کشور از اهمیت خاصی برخوردار می باشد، مطمئناً در هنگام استفاده آب برخورد دهقانی که می داند وضعیت آب در چی شرایط سختی است با دهقانی که نمی‌داند و آب را یک ماده تمام نشدنی می پندارد فرق می کند. یقیناً کسی که می داند در هنگام لباس شویی یا ضرف شویی با صرفه جویی یک گیلاس آب جان یک انسان را نجات می بخشد هرگز در هنگام استفاده آب بی پروایی نخواهد کرد. حرف آخر من این است که اگر فرض کنیم در شهر کابل شش یا هفت میلیون نفر زندگی می کنند اگر درطول روز نصف این مردم هرکدام یک لیتر آب را کمتر مصرف کند در یک روز به اندازه سه یا چهار میلیون لیتر آب صرفه جویی خواهد شد.

باید به یاد داشته باشیم که آب صرف میراث گذشته‌گان ما نیست، بلکه امانت نسل فردای ما است. بیایید در حفظ این امانت مهم امانت داری کنیم!

افغانستان کې د اقلیمي بدلون اغیزې:

عبدالسمیع واحدی

د ډېرو کلونو په اوږدو کې د یو ځای د آب هوا د وضیعت وسطي(منځنی) کچې ته اقلیم ویل کیږي . د آب و هوا د همدغې منځنی کچې د وضیعت بدلون اقلیمي بدلون بلل کیږي. او یا هم د ملګرو ملتونو د کنوانسیون د تعریف له مخې د انساني مستقیمو او غیرمستقیمو فعالیتونو له امله د آب و هوا تغییر ته اقلیمی بدلون ویل کیږي.

د اقلیم چټک بدلون چې موږ یې اوس شاهدان یو د کورونو، فابریکو او ترانسپورت لپاره د تیلو، ګازو او ډبرو سکرو د بې حده کارولو له امله رامنځته شوی.

کله چې دغه فوسیل سونګ سوزیږي، دوی د شنو خونو ګازونه په عمده ډول کاربن ډای اکساید خوشي کوي، د شنو خونو ګازونه د لمر تودوخه جذبوي او په دې ډول ورسره د ځمکې د تودوخې درجه لوړیږي.

که څه هم افغانستان د نړۍ د نورو هېوادونو په پرتله د ګلخانیي ګازاتو په تولید کې ډېر کم رول لري، یعنې یواځې ۰.۰۶ فیصده ګلخانیي ګازات تولیدوي خو بیا هم افغانستان د هغو لسو هېوادونو په کتار کې راځي، چې د اقلیم د بدلون په وجه تر ټولو ډېر زیانمنېدونکی دی. د دغه ناورین اغېز په ډېرو شویو وچکالیو کې جوت دی چې په ورستیو کې د ډېرو افغان وګړو د کړاو سبب شوي. ۲۰۱۶ زیږدیز کال کې ملګرو ملتونو UNEP یو راپور خپور کړ، چې له مخې یې د افغانستان منځنی کلنی تودوخه، چې له ۱۹۶۰م څخه تر ۲۰۰۸م پورې د سانتي ګراد په کچه 0.6 درجې لوړه شوې ، تر دې وروسته موده کې په ځیروونکي او چټک ډول ۱.۲ °C لوړه شوې. دغه بدلون د یخچالونو او واورو ویلې کېدل ګړندي کړي او د خونړیو سیلابونو د زیاتوالي، او د یخچالي جهیلونو د ماتېدو لامل شوی دی.

تېرو دوو لسیزو کې د اقلیم د بدلون په پایله کې، د افغانستان ۱۴٪ طبیعي یخچالونه ویلي شوي او د شلمې پیړۍ د پای په پرتله وچکالي دوه چنده شوې ده.

د افغانستان کلنی اوبه په لویه کچه په غرونو کې د ژمي په اوربښت پورې تړاو لري، چې د واورو او یخچالونو په بڼه راټولیږي، د اوربښتونو لږوالی د وچکالی لامل ګرځي.

د پسرلي او اوړي په موسمونو کې د طبیعي یخچالونو، واورو او کنګلونو څخه ویلي شوې اوبه چې د اوبو د طبیعي زیرمو کار ورکوي خړوبېدونکې ځمکې، سیندونه او د بندونو زېرمې تغذیه کوي.

د ځمکې ګرمیدل او اقلیمی بدلون له کبله په سیندونو کې د بحراني جریان (سیلابي) ورځې ډېرې او د سیند د متوسط جریان ورځې کم شوی دي. په دې معنی چې د پسرلي په موسم کې دوامداره سیلابونه راوځي خو وروسته د دوبي موسم کې چې نباتات اوبو ته اړتیا لري او کروندې باید خړوب شي د سیند منځنی جریان اصغري حالت ته غورځیدلی. دا بدلون د کروندو لپاره ویجاړوونکی دی، ځکه د اوړي په موسم کې چې کروندې اوبو ته اړتیا لري د اوبو لږوالی یې ګواښي. سربېره پر دې د اقلیمي بدلون له امله د تودوخې لوړېدل له نباتاتو د اوبو تبخیر ډېروي چې له امله یې کښت ډېرو اوبو ته اړتیا پیدا کوي.

په کلني اوربښتونو کې د کمښت له امله د واورو او یخچالونو زیرمې په بې ساري شکل د نابود کیدلو د خطر سره مخ دي دا د دی سبب شوی چې د هېواد کرنه، څرځایونه او د څښاک اوبو ټولې سرچینې زیانمنې شي د بېلګې په توګه، په ډېرو شمالي سیمو کې د للمي غنمو حاصلاتو کې د پام وړ کموالی راغلی. د هېواد د اوبو ذخیروي او د برېښنا د تولید بندونه د معمول کچې څخه کمې اوبه زیرمه کوي او ډېره کمه برېښنا تولیدوي.

پلازمینه کابل کې د ځمکې لاندې اوبه په اعظمي ډول تیټې شوې، او د څښاک د اوبو ډېرې ځاګانې وچې شوې، د کابل، کندهار او یو شمیر نورو لویو ښارونو خلک په ساعتونو ساعتونو ژورو ځاګانو ته کتار ولاړ وي تر څو د څښاک اوبه ترلاسه کړي، چې اکثره دغه ځاه‌ګانې د ددوی له کورونو څخه لرې واټن کې موقیعت لري.

د روان کال د مې میاشتې په آخره اوونۍ کې د ملګرو ملتونو د بشري چارو د همغږۍ دفتر (OCHA) په یوه راپور کې لیکلي وو، چې په افغانستان کې د هغو خلکو شمېر چې د څښاک پاکو اوبو ته لاسرسی نه لري په ۲۰۲۲ کال کې له 48 سلنې څخه په ۲۰۲۳ کال کې ۶۰ سلنې ته لوړ شوی دی.

اوسني وضعیت ته په کتلو دغه شمیر په چټکۍ سره د لوړیدو په حال کې دی.

د ځمکې لاندې اوبو د سطحې په ټیټیدو سره د کابل ښار یو زیات شمیر خلکو د ژورو ځاه‌ګانو کیندلو ته مخه کړې ددغو ځاه‌ګانو کیندل د ځمکې لاندې اوبو د کمښت او د ځمکې لاندیني قشر کې د خلا د رامنځته کیدو باعث ګرځي او دا پروسه په اوږد مهال کې په کابل او نورو لویو ښارونو کې د سختو زلزلو د واقع کیدلو خطرات زیاتوي. د افغانستان شمال، ختیځې سیمې او په خانګړې توګه پلازمینه کابل د هېواد زلزله خیزې سیمې بلل کېږي.

د اقلیم بدلون افغانستان کې ډېر سخت او ویجاړونکو وچکالیو ته شرایط برابر کړي.

د اوربښتونو کموالی له یوې خوا او د اوبو منابعو ته د خلکو نه پاملرنه او ددغو منابعو د استعمال په برخه کې د خلکو غیر مسولانه چلند له بلې خوا د عامو افغانانو ژوند د سترو چلنجونو سره مخ کړی او د راتلونکو نسلونو ژوند د ګواښ سره مخ دی.

ماخذونه:

د افغانستان د تحلیلګرانو شبکې ویب پاڼه afghanistan-analysts.org/pashto/reports/enviroment
ویکیپیدیا PS پښتو ، ویکیپیدیا دانشنامه آزاد، د ملګرو ملتونو د بشري چارو د همغږۍ دفتر اوچا 2022 کال کلنی رپوټ.
د افغانستان د چاپېریال ساتنې اداري NEPA رسمي ویبسایټ

د پولې هاخوا اوبو د وېش اړوند د حقوقي رژیمونو څېړنه

(د آمو سیند اړوند د حقوقي وضعیت ځانګړې څېړنه)

څېړونکی: ملا عبدالوهاب «مدقق»

دا مقاله په ټوله کې په دوه نومېرلیو برخو وېشل شوې ده چې په لومړۍ برخه کې د پولې ها خوا اوبو د وېش په تړاو ځانګړیو بین‌المللي حقوقي رژیمونو او معیارونو ته کتنه کیږي او په وروسته برخه کې بیا د افغانستان او شوروي اتحاد ترمنځ د آمو په بین‌المللي سیند کې هغه پلې شوي بین-المللي حقوقي رژیمونه چې د سرحدي کرښې د ټاکل کیدو سربېره د سرحدي اوبو د وېش په موخه ځانګړي شوي دي، په پرتله‌ییزه توګه څېړل کیږي.

لومړۍ برخه:

د پولې هاخوا اوبو د وېش حقوقي رژیمونه

د اوبو په معاصر بین‌المللي قوانینو کې، چې بنیاد یې اسلامي فقهې ایښی دی، د بین‌المللي اوبو څخه د ښې ګټې اخیستنې او عادلانه وېش په پار یو لړ بنسټیز حقوقي نورمونه شتون لري چې په لاندې کرښو کې به ورته بشپړه کتنه وشي.

د تاریخ په اوږدو کې بیا تر دې مهاله د اوبو په بین‌المللي قوانینو کې د اوبو د عادلانه وېش لپاره راز راز رژیمونه او تیوریانې په پام کې نیول شوې دي خو له یادو رژیمونو څخه یواځې درې حقوقي رژیمونه، چې د «بالمناصفه (مساوي) وېش تیوري»،د«محدودې واکمنی تیوري» او د«اوبو ګټې شریکول یا د Benefit Sharing /په سیندونو د هیوادونو ګډ حاکمیت) تیوري په اډانه کې د حقوق پوهانو له آنده عادلانه بلل شوې دي او د پولې هاخوا اوبو په وېش کې پلې شوې هم دي؛ تر دې مهاله له حقوقي پلوه د اعتبار وړ دي او همدا راز په راتلونکي کې هم د پلې کیدا وړتیا لري.

د لومړي حقوقي رژیم له مخې د اوبو وېش د بین‌المللي سیندونو ماهیت او نوعیت(ډولونو ته)په کتو په بالمناصفه(۵۰/۵۰)توګه یا د مکعب متر پر اساس تر سره کیږي. د پولې هاخوا اوبو څخه دګټې اخیستنې دوهم حقوقي رژیم د «د اوبو وېش د بین‌المللي سیندونو څخه دګټې اخیستنې د ماهیت پر بنسټ» رژیم دی او دریم د«اوبو ګټې شریکول یا د Benefit Sharing)تیوري ده چې په اړه یې اوس مهال ګرمې څېړنې او بحثونه دوام لري چې په لاندې کرښو کې به هر یو په جلا جلا توګه و ارزول شي.

لومړی حقوقي رژیم: د اوبو وېش د بین‌المللي سیندونو د ماهیت پر بنسټ

یاد حقوقي رژیم د نورو رژیمونو په پرتله پخوانی رژیم بلل کیږي او د نړۍ د پام وړ بین‌المللي سیندونو په ځانګړي توګه د آمو سیند د اوبو وېش د یاد حقوقي رژیم پر بنسټ ترسره شوی دی. یاد تر سره شوی وېش(ګټه اخیستنه) تر دې مهاله د اړوندو هیوادونو ترمنځ له ښه حقوقي اعتبار څخه برخمن دی او یاد هیوادونه هم تر دې مهاله پر یاد وېش او اړوند رژیم خوښ دي.

په یاد حقوقي رژیم کې د سیندونو ماهیت او ډولونه(پوله‌جوړونکي او پوله‌تېرېدونکي سیندونه)د اوبو د وېش یا د منصفانه ګټې اخیستنې لپاره د معیار په توګه پېژندل شوي دي.یاد بین‌المللي سیندونه که پوله‌جوړونکي سیندونه وي د یادو سیندونو د اوبو د منصفانه وېش لپاره د تالوګ یا منځنی کرښه، چې د سیندونو اوبه په بالمناصفه (د۵۰/۵۰ سلنې) په توګه وېشي، دحقوقي رژیم په توګه غوره شوی دی او که یاد سیندونه پوله-تېرېدونکي سیندونه وي،پدې صورت کې په یادو سیندونو کې د اوبو وېش بیا د اړوندو خواوو ترمنځ د خبرو اترو او بشپړې خوښې په ترڅ کې د عادلانه او معقولانه اصل، چې د محدودې واکمنی اصل له پام وړ عناصرو او ځانګړتیاوو څخه بلل کیږي او د یاد سیند اوبه په بالمناصفه توګه نه بلکې اړتیاوو او اقتصادي اغیزمنتیاوو ته په کتو د مکعب متر پر اساس یا د مکعب متر پرته، ترسره کیږي.

په ټوله کې د بین‌المللي اوبو څخه د ښې ګټې اخیستنې په موخه بین‌المللي سیندونه په جغرافیایي لحاظ یا د سیاسي ماهیت له مخې په پوله‌جوړونکي(مرزي/سرحدي) او پوله‌تېرېدونکي سیندونو وېشل شوي دي او په هر دواړو ډولونو کې د اوبو د وېش لپاره ځانګړي حقوقي چوکاټونه او اصول شتون لري.

مخکې لدې چې د پوله‌جوړونکي(مرزي/سرحدي) سیندونو بحث پیل کړو، د سرحدي کرښې یا مرز د پېژندګلوی څخه پیلوو چې لومړی سرحدي کرښه څه ته وایي او د کومې موخې په تکل ټاکل کیږي.

مرز د هیوادونو تر منځ هغې وروستی اعتباري او قراردادي کرښې ته ویل کیږي چې پرښسټ یې د هیوادونو خمکنی،اوبیزه او فضایي بشپړتیا ټاکل کیږي.

خمکنی سرحدي کرښه په ټوله کې په دوه ډوله وېشل کیږي؛ طبیعي او لاسي(مصنوعي)کرښه.

مصنوعي کرښه:

لاسي سرحدي کرښې د طبیعي سرحدي کرښو د نشتون پرمهال د دوه هیوادونو د سلا اومشورو پر بنسټ د جغرافیایي کوردیناتو او لاسي نښو پر مټ په هواره کې د خمکې پر سر ټاکل کیږي.

طبیعي کرښه:

سرحدي طبیعي کرښه د دوه هیوادونو ترمنځ له شته طبیعي نښو لکه: سیندونو، غرونو، دښتو، سمندرونو او دښته ورته له نورو طبیعي نښو جوړیږي.

د دوه هیوادنو ترمنځ که سیند د سرحدي کرښې په توګه شتون ولري پدې صورت کې د یاد مرز(کرښې)د ټاکلو او د یاد سیند د اوبو د وېش په برخه کې ځانګړي بین‌المللي حقوقي رژیمونه شتون لري چې پر اساس یې یاده سرحدي کرښه

او همدا راز د اوبو د وېش مسئله هم هواريږي او یاد سیند د بین‌المللي سیند بڼه غوره کوي.

سرحدي (مرزي / پوله جوړونکي) بین‌المللي سیندونه:

سرحدي بین‌المللي سیندونه هغو سیندونو ته وېل کیږي چې د دوه یا لهٔ دوو څخه د زیاتو هیوادونو ځمکنی بشپړتیا سره جلا کوي او یاد سیندونه پهٔ بشپړه توګه یا د هغوی لویه برخه د یادو هیوادونو ترمنځ د سرحدي کرښې پهٔ توګه ګڼل کیږي.

پهٔ مرزي بین‌المللي سیندونو کې تر ټولو ستره ستونزه د مرز ټاکل دي او د یادې مرزي کرښې ټاکل د اړوندو هیوادونو پهٔ سلا مشورو تر سره کیږي. یاده سرحدي کرښه که چېرې د یادو هیوادونو پهٔ رضایت وټاکل شي،د سیند پاتي نور ټول حقوقي مسائل ورسره هواريږي.

پهٔ یادو سیندونو کې د اوبو وېش د سرحدي کرښې د ټاکلو پهٔ پایله کې صورت مومي. پهٔ سرحدي بین‌المللي سیندونو کې د اوبو وېش، پهٔ اوبو کې د وندې یا پهٔ ثانیه کې د مکعب متر یا د سیند اوبو څخه د ګټې اخیستنې د کچې پر اساس صورت نه مومي. پهٔ بل عبارت، پهٔ پوله-جوړونکو سیندونو کې د اوبو وېش د «دعادلانه او عاقلانه ګټې اخیستنې» اصل پر بنسټ، اړتیاوو او اقتصادي اغیزمنتیاوو ته پهٔ کتو نه وېشل کیږي بلکې د«بالمناصفه ګټې اخیستنې» اصل پر بنسټ د سرحدي کرښې پهٔ ټاکلو سره ترسره کیږي؛ هر لوری کولای شي پهٔ خپل قلمرو او پهٔ سیند کې تر مرزي کرښې لهٔ سرحدي اوبو څخه پهٔ بالمناصفه(د۵۰/۵۰ سلنې پهٔ) توګه د اړتیا پهٔ صورت کې او اړتیا پرته،اقتصادي اغیزمنتیا ولري او که یې ونه لري، د بشپړې واکمنی پهٔ اډانه کې د خپل بشپړ ملکیت پهٔ توګه، ګټه پورته کړي.

پدې صورت کې د یادې ګټې اخیستنې لپاره، چې د بشپړې واکمنی پهٔ اډانه کې د خپل بشپړ ملکیت پهٔ توګه ترسره کیږي، بیا د حقابې اصطلاح نه کارول کیږي[1]

د اوبو سرچینو پهٔ بین‌المللي حقوقو کې پهٔ سرحدي بین‌المللي سیندونو کې د اوبو د وېش یا د سرحدي کرښې د ټاکلو لپاره ډول ډول حقوقي رژیمونه کارول شوي دي چې ځینې یې پهٔ لاندې توګه دي.[2]

د اوبو بین‌المللي قوانینو لهٔ مخې لهٔ یادو حقوقي رژیمونو څخه یواځې دوه رژیمونه، چې لهٔ اوږدې مخینې څخه برخمن دي، د باور وړ دي او هغه پهٔ لاندې توګه دي:

اول.د سیند پهٔ منځ کې فرضي کرښه (منځنی سطحي کرښه/ Mediam Line)

منځنی کرښه یوه حقوقي قاعده ده او پهٔ هغو سرحدي بین‌المللي سیندونو کې چې د کښتی چلونې وړتیا نلري،کارول کیږي.

د یادې حقوقي قاعدې پر بنسټ د سیند د اوبو سطحه د دوه یا ډېرو هیوادونو ترمنځ،چې د یاد سیند پهٔ سواحلو کې شتون لري، پهٔ مساوي توګه وېشل کیږي او یاد حقوقي رژیم د سیند پهٔ منځ کې تر یادې کرښې پورې د یاد سیند پهٔ بستر او اوبو کې د اړوندو هیوادونو ملکیت ثابتوي.[3,4]

دوهم. د تالوګ کرښه(خط القعر)

د تالوګ کلمه لهٔ الماني ژبې څخه اخیستل شوې ده او هغه کانال ته کارول کېده چې د کښتی چلونې لپاره ځانګړی شوی وه.

یاده کرښه د اوبو پهٔ بین‌المللي قوانینو کې د بین-المللي سرحدي سیند د اوبو د وېش د حقوقي رژیم پهٔ توګه پیژندل شوې ده او پهٔ هغو بین‌المللي سرحدي سیندونو کې چې د کښتی چلونې وړتیا لري،کارول کیږي.

پدې توګه د تالوګ کرښه د سیند پهٔ تل کې چې د سیند تر ټولو ښکتنی برخه جوړوي د کښتی چلونې لپاره ځانګړې شوې ده او د اړوندو هیوادونو ترمنځ د سرحدي کرښې پهٔ توګه یادېږي او تر یادې کرښې پورې هر لوری کولای شي لهٔ سرحدي اوبو څخه پهٔ بالمناصفه توګه ګټه پورته کړي.[5,6]

د اوبو د وېش لپاره نور میتودونه هم شتون لري چې لهٔ هغې جملې څخه پهٔ یاد سیند باندې د هیوادونو د ګډې واکمنی(ګډ سرحد/ګډ حاکمیت) میتود دی او لهٔ مخې یې د یاد سیند څخه د یو اقتصادي واحد او پهٔ ګډه توګه ګټه اخیستنه او مدیریت صورت مومي.د منځنی کرښې او د تالوګ کرښې پرته نور میتودونه پهٔ بین‌المللي قوانینو کې د پلې کولو وړتیا نه لري.[7]یاد حقوقي رژیم د پوله‌تېرېدونکو(پرله‌پسې/متوالي)سیندونو اړوند حقوقي رژیم(عادلانه او معقولانه ګټې اخیستنې) اصل پهٔ پرتله لهٔ اوږدې مخینې څخه برخمن دی او یواځې پهٔ پوله‌جوړونکو سیندونو کې د پلې کیدا وړتیا لري.

پوله‌تېرېدونکي(پرله‌پسې/متوالي)سیندونه:

پوله‌تېرېدونکي سیندونه پرته لدې چې د هیوادونو ترمنځ پوله جوړه کړي د یوه هیواد یا څو هیوادونو لهٔ قلمرو څخه پهٔ پر لپسې توګه تېرېږي او د اوبو بین‌المللي قوانینو پر بنسټ تنظمیږي.[7] پهٔ یادو سیندونو کې لهٔ اوبو څخه پهٔ ګډه توګه ګټه اخیستنه پهٔ لاندې دوه برخو وېشل کیږي:

کښتی چلونې پرته ګټې اخیستنې:

پهٔ یادو سیندونو کې د مرزي (پوله‌جوړونکي) سیندونو پهٔ توپیر د سرحدي کرښې د ټاکلو مسئله شتون نلري او نه مطرح کیږي.پداسې سیندونو

---

[1]. ګنجینه آزمون ومحتوای آموزشی«درسنامه آموزشی جغرافیا(۲) کلاس یازدهم رشته ادبیات وعلوم انسانی»،مدرس، شمسی شعبانی(...gama.ir/dars/detail/63)

[2]. سنګاچین، فرزام پور اصغر،«آثار وپیامد های پروژه آناتولی شرقی(داپ)برمنابع آب شمال غرب(رودخانه ارس)»،سال چاپ: ۱۳۰۱،ص:۶۵-۶۲

[3]. .موسوی، سید فضل الله ،حقوق رودخانه های بین المللي با تاکید بر حوزه های اردن ولیطانی ومدیریت وبرنامه ریزی آبها، نشر:تهران – دادگستر،سال: 1389،ص:۱۲۵-۱۲۱

[4]. نقیب شرطهٔ د/ حسین عبدالرحمن سلیمان، الحدود الدولیه و المیاه الإقلیمیهٔ مفهومها و القواعد المنظمهٔ لها،(۲۸/ ۱ / ۲۰۰۹)الإمارات العربیهٔ المتحدهٔ - أبوظبی، جامعهٔ نایف العربیهٔ للعلوم الامنیه، الندوهٔ العلمیهٔ تامین المنافذ البریهٔ والبحریهٔ والجویهٔ[episitorg.nauss.edu.sa]

[5]. نوروزی، میثم، رژیم حقوقی حاکم بر رودخانه مرزی ارس[WWW.Yaserziaee.blogfa.com]

[6]. همان

[7]. مقتدر، هوشنگ، حقوق بین الملل عمومی، نوبت چاپ : ۲۰، سال : ۱۳۹۱ نشر: تهران - وزارت امور خارجه، اداره نشر، ص: ۲۳۴

کې یواځې د اړوندو هیوادونو د حقابې یا په اوبو کې د ونډې د کچې مسئله ده چې باید په هر اړخیزه توګه او نړیوالو ځانګړو حقوقي ډول ډول معیارونو ته په کتو چې د «منصفانه او معقولانه ګټې اخیستنې» په پار د تاریخ په مختلفو پړاوونو کې اېښودل شوي دي، باید وڅېړل شي.

د تاریخ په اوږدو کې د پوله‌تېرېدونکو سیندونو د اوبو د وېش او ګټې اخیستنې په برخه کې په ټولیزه توګه درې متضاد حقوقي تیوریانې(رژیمونه)شتون لري چې په لاندې دوه کټګوریو وېشل شوي دي:

لومړی.ناعادلانه حقوقي رژیمونه:

یاد حقوقي رژیمونه چې د «ځمکنۍ واکمنۍ مطلق نورم» او د «مطلقه ځمکنۍ بشپړتیا نورم» ترسرلیک لاندې مطرح شوي دي د پوله تېرېدونکو سیندونو څخه د ګټې اخیستنې په ډګر کې د یو او بل په تقابل او تضاد کې خای غوره کړی دی.

د یاد ځمکنۍ واکمنۍ مطلق رژیم پر بنسټ، پورته پروت هیواد کولای شي د پوله تېرېدونکي سیند له اوبو څخه په یوه اړخیزه توګه او پرته لدې چې د ښکته پروت هیواد ګټې او زیانونه په پام کې ونیسي په ناعادلانه توګه ګټه پورته کړي.[10] همدا راز ښکته پروت هیواد بیا د مطلقه ځمکنۍ بشپړتیا تیوري پر بنسټ پرته لدې چې د پورته پروت هیواد ګټې او زیانونه په پام کې ونیسي د یاد سیند د بشپړ طبیعي جریان چې د پورته پروت هیواد له هر راز لاسوهنې څخه ژغورل شوی وي، غوښتنه کوي.[11]

یاد دوه رژیمونه یواځې په پوله‌تېرېدونکو سیندونو پورې تړاو لري او دا مهال له حقوقي اعتبار څخه برخمن ندي.

دوهم.عادلانه حقوقي رژیم

د «محدود حاکمیت تیوري» چې اوسمهال د بین‌المللي سیندونو د معاصرو بین‌المللي حقوقو بنسټ جوړوي،د پوله‌تېرېدونکو سیندونو څخه د عادلانه او معقولانه ګټې اخیستنې په ډګر کې تر ټولو غوره او عادل حقوقي رژیم ګڼل کیږي.[12]

په پوله‌تېرېدونکو سیندونو کې د اوبو د وېش یاد حقوقي رژیم یو پخوانی رژیم دی چې تر دې مهاله د بین‌المللي سیندونو په دواړه ډولونو(پوله-جوړونکي او پوله‌تېرېدونکي سیندونو)کې د تورو حقوقي رژیمونو په توپیر د پلې کیدا وړتیا لري او د یادو سیندونو څخه د ګټې اخیستنې په ډګر کې د یو عادل واکمن په توګه واک چلوي.

د یاد حقوقي رژیم له مخې هر اړوند هیواد کولای شي د پوله‌تېرېدونکي سیند څخه د تورو اړوند هیوادونو اړتیاوو او ګټو سربېره خپلو اړتیاوو او اقتصادي اغیزمنتیاوو ته په کتو په عادلانه او معقولانه توګه د غیر کښتۍ چلونې اهدافو په موخه ګټه پورته کړي او له اړتیا پرته ګټې اخیستنې څخه، چې اقتصادي اغیزمنتیا پکې شتون ونه لري او تورو اړوند هیوادونو ته د زیان اړولو لامل ګرځي، په کلکه ډډه وکړي.

دا چې په پخوا(1956زکال مخکې کلونو) کې هیوادونو د اوس په پرتله پراختیا نه وه موندلې ،د نړۍ د نفوسو د شمېر کچه او همدا راز د اقلیمي ادلون او بدلون ګراف هم لوړ نه و،اوبو ته د اړتیا کچه ټیټه وه او اوبه پرېمانه وې. له همدې امله هغه مهال د هیوادونو د پالسیو،قضایي بین‌المللي تصمیم نیولو،بین‌المللي تړونونو او کنوانسیونونو له مخې په بین‌المللي سیندونو کې د اوبو وېش د طبیعي ګټې اخیستنې(عادلانه او عاقلانه ګټې اخیستنې) په بڼه پرته لدې چې ځانګړی تړون شتون ولري او مکعب متر پکې وکارول شي لاندې اصولو ته په پام ترسره کیده:

۱.یاده ګټه اخیستنه په اغیزمنه او اقتصادي توګه او اړتیاوو ته په کتو باید تر سره شي.

هغه مهال د اوبو په یاد وېش کې د اړوند هیوادونو د ونډې کچه د مکعب متر پربنسټ نه بلکې اړتیاوو او اقتصادي اغیزمنتیاوو پر اساس ټاکل کیده؛ ځکه هغه مهال اړتیاوې د وروسته کلنو په پرتله کمې او اوبه پرېمانه وې.

۲.یاده ګټه اخیستنه پداسې توګه باید ترسره شي چې د نورو اړوند هیوادونو ګټې زیانمنې نکړي.

په یاد اصل کې ګټه اخیستونکی هیواد له هر داسې کړنې چې د بل حقابه لرونکي هیواد ګټې په جدي توګه زیانمنولی شي لکه د اوبو جریان ګډوډول یا د اوبو په مسیر کې انحراف رامنځته کول،د اوبو د ککړتیا مسئله او دېته ورته نور مسائل؛ باید ترېنه ډډه وکړي.

هغه مهال چې په یاده ګټه اخیستنه کې یادو دوه عناصرو شتون درلود، یاده ګټه اخیستنه یا عادلانه او عاقلانه بلل کېدله او هغه مهال د یادې ګټې اخیستنې لپاره له یادو دوه اصولو پرته تورو اصولو شتون نه درلود.

په یاد حقوقي رژیم کې هغه مهال تر ډېره بریده هڅې پدې روانې وې څو په بین‌المللي سیندونو کې اړوند ټولو حقابه لرونکو هیوادونو ته، اړتیاوو ته په پام، هر راز امتیاز پرته مساوي حقوق ومنل شي.

په پوله‌جوړونکي سیندونو کې د مساوي حقوقو څخه موخه د اوبو په بالمناصفه توګه(مساوي) وېش نه بلکې د یادو سیندونو په اوبو کې د اړوند هیوادونو یواځې د ګډون یا د ونډې لرلو حق دی چې کچه به یې د یوه هیواد نسبت بل هیواد ته د «عادلانه او عاقلانه ګټې اخیستنې»اړوند فکتورونو ته په کتو توپیر لري.[13]

یاده دې وي چې د تاریخ په اوږدو کې د عادلانه او معقولانه ګټې اخیستنې په موخه د یادو اصولو سربېره تور راز راز فکتورونه هم په پام کې نیول شوي دي؛د نموني په توګه: د دوبروونیک

[8] .اوریده، قربیا او نور،«مطالعه تطبیقی اصول وقواعد بین المللی حاکم بر تقسیم آب در رودخانه های فرامرزی»،فصلنامه علوم محیطی،دوره چهاردهم،شماره تابستان ۱۳۹۵،ص:۸۱

[9] . سهرابی، محمد، حقوق بین‌الملل عمومی، نوبت چاپ: اول، ۱۳۸۳، نشر: تهران - کتابخانه گنج دانش، ص: ۱۱۸

[10] .موسوي،سید فضل الله،حقوق رودخانه های بین المللی با تاکید بر حوزه های اردن ولیطانی ومدیریت و برنامه ریزی ابها،نشر:تهران- دادگستر،سال: ۱۳۸۸،ص: ۱۲۷

[11] .نامی، محمد حسن،جغرافیای سیاسی آبهای مرزی ایران،نشر:تهران-سهره،سال: ۱۳۹۰،ص: ۳۳

[12] .د اوبو او انرژي وزارت خپرونکی ارګان،«اوبه او انرژي»،پولسم کال،نولسمه ګڼه،د ۱۴۰۱ه.ش.کال دوهمه ربعه(سرطان،اسد،سنبله)،ص: ۳۰

کنفرانس اصول چې په کال ۱۹۵۶ کې دعادلانه او معقولانه ګټې اخستنې په موخه کېښودل شول،[۱۴] د هلسینکي قواعدو په پنځمه ماده کې دعادلانه او معقولانه برخې(سهم) د ټاکلو په موخه ځانګړې فکتورنه[۱۵] او همدا راز د سازمان ملل د ۱۹۹۷زکال په کنوانسیون کې د عادلانه او معقولانه ګټې اخیستنې په پار یو لړ ځانګړې فکتورونه ټاکل شوي دي.[۱۶]

کښتۍ چلونې اړوند ګټې اخیستنې:

پوله‌جوړونکي سیندونو په توپیر، چې د کښتۍ چلونې په پاره ځانګړې حقوقي رژیمونه لکه د تالوګ یا د منځنۍ کرښې په پام کې نیول شوي دي،په پوله‌تېرېدونکو سیندونو کې د کښتۍ چلونې لپاره بیا ځانګړې حقوقي رژیم شتون نه لري.

په پوله‌تېرېدونکي سیندونو کې هر هیواد کولای شي له یادو سیندونو څخه د کښتۍ چلونې په موخه ګټه پورته کړي او همدا راز یوه بهرنۍ کښتۍ کولای شي په پوله‌تېرېدونکي سیند کې د یاد سیند اړوند هیواد نه د بل هیواد قلمرو ته تګ را تګ وکړي او یاده چاره د یوه هیواد د واکمنۍ تر پښو لاندې کولو په مانا نه تمامیږي. [۱۷]البته د کښتۍ چلونې اړوند ټول اړین مسائل او له هغو څخه نظارت کول په ټوله کې د هیوادونو ترمنځ د ګډو تړونونو او د ګډوکمیسیونونو په رامنځته کولو سره سمبال او مدیریت کیږي.[۱۸]

دوهم حقوقي رژیم: د اوبو وېش د بین‌المللي سیندونو څخه دګټې اخیستنې د ماهیت پر بنسټ:

یاد حقوقي رژیم، لومړي حقوقي رژیم ته په پام، خوان او معاصر رژیم ګڼل کیږي او د پوله هاخوا اوبو په اوسني(معاصر) وېش کې تر ټولو کارنده او پام وړ حقوقي رژیم دی چې د ملل متحد سازمان د ۱۹۹۷ز کال په کنوانسیون کې رسمي بڼه خپله کړې ده.

یاد حقوقي رژیم،چې د «عادلانه او معقولانه ګټې اخیستنې» اصل څخه پیروي کوي،د اوبو وېش د سیندونو د ماهیت(پوله جوړونکي/پوله تېرېدونکي سیندونه)پر بنسټ نه بلکې د سیندونو څخه د ګټې اخیستنې د نوعیت (ډولونو) پر اساس ترسره کوي.

د یاد حقوقي رژیم په را منځته کیدو سره دسیندونو یادو ډولونو (پوله‌جوړونکي / پوله تېرېدونکي سیندونو) ته د بین‌المللي سیندونو د وېشلو فلسفه نور پای موندلی دی او کوم حقوقي اعتبار نه لري یعني د یادو بین‌المللي سیندونو په دواړو ډولونو(پوله‌جوړونکي او پوله‌تېرېدونکي سیندونو)کې د اوبو وېش د لومړي حقوقي رژیم په توپیر یواځې د یوه ټاکلي حقوقي رژیم له مخې ترسره کیږي.په بل عبارت:یاد حقوقي رژیم د بین المللي سیندونو په دواړو ډولونو کې د اوبو وېش اصالتا او له استثناء پرته ترسره کوي.

د یاد حقوقي رژیم له مخې د بین‌المللي سیندونو له اوبو څخه ګټه اخیستنه په لاندې دوه ډوله ده:

لومړی: د بین‌المللي سیندونو له اوبو څخه د کښتۍ چلونې پرته د نورو موخو لپاره ګټه اخیستنه:

د بین‌المللي سیندونو له اوبو څخه د ګټې اخیستنې په یاد ډول کې د اوبو وېش د عادلانه اومعقولانه ګټې اخیستنې اصل پراساس، چې دا مهال د اوبو د وېش په ډګر کې یو عادلانه حقوقي رژیم ګڼل کیږي،ترسره کیږي.

د یاد حقوقي رژیم له مخې له بین‌المللي اوبو څخه د ګټې اخیستنې په یاد ډول(کښتۍ چلونې پرته د نورو اهدافو په موخه ګټه اخیستنه) کې د اوبو وېش په مساوي یا په بالمناصفه توګه نه بلکې د عادلانه اومعقولانه ګټې اخیستنې د اصل اړوند ټاکل شویو فکتورونو ته په پام په اوبو کې د ټاکل شوې وندې یا په ثانیه کې د مکعب متر یا د سیند اوبو څخه د ګټې اخیستنې د کچې پر اساس صورت مومي او په یادو سیندونو کې دا تر ټولو ستونزمنه مسئله ګڼل کیږي.

په ټوله کې،له بین‌المللي سیندونو څخه د کښتۍ چلونې پرته ګټه اخیستنه کې د اوبو وېش د «عادلانه او معقولانه ګټې اخیستنې» اړوند نړیوالو فکتورونو ته په پام ترسره کیږي؛ یاد فکتورونه په لاندې توګه دي.[۱۹]

- د اړوندو هیوادونو جغرافیایي، هایدرولوژیکي، هایدروګرافي او دېته ورته نور د اقلیم او چاپیریال اړوند طبیعي فکتورونه په پام کې نیول؛
- د یادو هیوادونو ټولنیز او اقتصادي غوښتنو ته پام کول؛
- په سیندیزه حوزه کې د ونډه لرونکو هیوادونو د نفوس کچه تعینول؛
- په اړوندو هیوادونو کې د سیندیزې حوزې څخه د ګټې اخیستنې د اغیزو څېړل؛
- د سیندیزې حوزې څخه دګټې اخیستنې د اوسني او راتلونکي پوتنشیل مالومول؛
- د اوبیزو سرچینو ساتنه،پراختیا او له یادو سرچینو څخه اقتصادي ګټه اخیستنه او همداراز د یادو برخو په لګښتونو کې ونډه اخیستل،
- د شته او پلان شوې ګټې اخیستنې لپاره د نورو بدیلونو شتون او دیادو بدیلونو ترمنځ د ګټو او ارزښتونو ارزونه.[۲۰]

[۱۳] .مخکینی منبع، موسوي،سید فضل الله،حقوق رودخانه های بین المللی با تاکید بر حوزه های اردن ولیطانی ومدیریت و برنامه ریزی آبها،نشر:تهران- دادگستر،سال:۱۳۸۸،ص:۱۵۹-۱۳۹

[۱۴] .هماغه منبع،ص:۱۶۰-۱۵۹

[۱۵] .سنگاچین، فرزام پور اصغر،«آثار وپیامد های پروژه اناتولی شرقی(داپ)برمنابع اب شمال غرب(رودخانه ارس)»،سال چاپ:۱۴۰۱، ص:۵۵

[۱۶] The General Assembly,The United Nations,Convention On The Law Of The Non -navigational Uses Of International Watercourses,1997,Article:6.

[۱۷] .هماغه منبع،ص:۱۲۵

[۱۸] .هماغه منبع،ص:۱۲۵

پاده دې وي چې د اوبو لهٔ ګډو سرچینو څخه د ګټې اخیستنې پهٔ برخه کې او د اړوندو هیوادونو تر منځ د ګډو اوبو پهٔ تړاو د خبرو اترو او د اوبیزو مسائلو د هواري پهٔ ډګر کې، د یادو فکتورونو سربېره د هایدروپولیـــــــــتیک لهٔ مخې، «هیدروهژمون[۲۱]» یا د یو هیواد جیوپولتیکي وضعیت او د هغې کچه،چې پهٔ سیمه‌ییزو معادلاتو کې د ډېرې ګټې د تر لاسه کولو یو اغیزمن ابزار ګڼل کیږي او د ملي قدرت لهٔ اقتصادي، اجتماعي، سیاسي، جغرافیایي، نظامي، فرهنګي، علمي او پوله‌تېرېدونکو ځانګړتیاوو پر بنسټ ټاکل کیږي، هم د یو اړین فکتور پهٔ توګه پېژندل شوی او عملا کارول کیږي؛[۲۲] ولې لهٔ حقوقي اړخه یاد فکتور عادلانه نه بلل کیږي.[۲۳]

هغه کمیسیونونه چې د اړوندو هیوادونو ترمنځ د دوه او څو اړخیزو تړونونو پهٔ پایله کې رامنځته شوي وي، پهٔ اسانه توګه کولای شي د اوبو وېش مسئله هر لور ته د حق او تکلیف پهٔ ټاکلو سره او یاد فکتورنو ته پهٔ پام هواره کړي.[۲۴]

دوهم.د بین‌المللي سیندونو لهٔ اوبو څخه د کښتۍ چلونې پهٔ موخه ګټه اخیستنه:

د یادولو وړ ده،لکه څرنګه چې پهٔ پورته کرښو کې د دې یادونه وشوه چې یاد حقوقي رژیم د پوله-تېرېدونکو سیندونو سربېره د پوله‌جوړونکو(دکښتۍ چلونې وړتیا لرونکو او نه لرونکو) سیندونو د اوبو پهٔ وېش(د اوبو څخه کښتۍ چلونې پرته ګټه اخیستنه/د حقابې پهٔ ټاکنه) کې هم د لومړي رژیم(تالوګ/منځنۍ کرښې) پهٔ توپیر د پلې کیدا وړتیا لري.[۲۵]البته که یاد پوله‌جوړونکی سیند د کښتۍ چلونې وړتیا ولري، یواځې د کښتۍ چلونې ګټه اخیستنه یې د یاد حقوقي رژیم تابع نه ګڼل کیږي او د کښتۍ چلونې پرته نورې پاتې ګټې اخیستنې(د چاپیریال ساتنې،د برښنا د تولید،د اوبو لګونې د صنعتي چارو پهٔ ډګر کې او د کورني مصارفو د پوره کولو پهٔ موخه ګټې اخیستنې) بیا د یاد حقوقي رژیم پورې تړاو لري او دیاد حقوقي رژیم پر بنسټ یادې ګټې اخیستنې مدیریت کیږي.

پهٔ بین‌المللي رسمي مراجعو کې پهٔ ځانګړې توګه د ملل متحد سازمان د پهٔ کنوانسیون کې د کښتۍ چلونې پهٔ موخه د ګټې اخیستنې پهٔ تړاو اصول او حقوقي نورمونه ندې اېښودل شوي؛خو پهٔ عرفي بین‌المللي قوانینو کې پهٔ ځانګړې توګه پهٔ هلسینکي مقرراتو او د برلین پهٔ قواعدو کې د کښتۍ چلونې پهٔ موخه یو لړ اصول پهٔ پام کې نیول شوي دي.[۲۶]

پهٔ ټوله کې دا ویلی شو چې پهٔ کښتیراني ګټه اخیستنه کې د حقابې یا د مکعب متر مسئله نده مطرح بلکې د سیند پهٔ ځانګړې مساحت او مسیر کې د کښتۍ پهٔ ازادانه توګه چلولو سربېره د کښتۍ چلونې پر وړاندې د احتمالي زیانونو(توپان سره مخکیدل،پهٔ کښتۍ کې تخنیکي ستونزه رامنځته کیدل او دېته ورته د نورو زیانونو) د مخنیوي پهٔ موخه اړین تدابیر پهٔ پام کې نیول،د کښتۍ چلونې مهالوېش،د کښتۍ ملي نښان یا بیرغ،د لنګر اچولو مسئله،د ککړتیا مسئله،د کښتۍ اړوند د سندونو د تفتیش یا معاینې څخه مصؤونیت او دېته ورته نور مسائل اړین دي او یاد مسائل د هیوادونو ترمنځ د ځانګړو تړونونو پر بنسټ باید مدیریت شي.[۲۷]

پورته یاد دوهم حقوقي رژیم دلومړي حقوقي رژیم لهٔ دوهم ډول(پوله تېرېدونکي[پرله پسې/ متوالي] سیندونو) سره چې د «عادلانه او معقولانه ګټې اخیستنې» اصل پر بنسټ مدیریت کیږي ورته والی لري او یواځې پهٔ لاندې نکتو کې سره توپیر لري:

1.پهٔ لومړي حقوقي رژیم کې د دوهم ډول(پوله-تېرېدونکي سیندونو)پهٔ مقابل کې اول ډول(پوله-جوړونکي سیندونه)چې د تالوګ یا د منځنۍ کرښې پر اساس مدیریت کیږي،شتون لري او یاد حقوقي رژیم (تالوګ /منځنۍ کرښه)بیا پهٔ دوهم حقوقي رژیم کې ځای نه لري؛ځکه پهٔ دوهم حقوقي رژیم کې دوه ډولونه(له سیندونو څخه دکښتۍ چلونې پرته ګټه اخیستنه او د کښتۍ چلونې پهٔ موخه ګټه اخیستنه)شتون لري او یاد ډولونه بیا پهٔ اول حقوقي رژیم کې شتون نه لري.

2.پهٔ اول حقوقي رژیم کې د منصفانه او معقولانه ګټې اخیستنې لپاره ټاکل شوي فکتورونه لهٔ هغو فکتورونو سره چې پهٔ دوهم حقوقي رژیم کې د منصفانه او معقولانه ګټې اخیستنې پهٔ موخه اېښودل شوي دي،توپیر لري.

3.دځېرونکو پهٔ وینا پهٔ لومړي حقوقي رژیم کې د «عادلانه او معقولانه ګټې اخیستنې» اصل یواځې پهٔ پوله‌تېرېدونکو سیندونو پورې تړاو لري او پهٔ پوله‌جوړونکو سیندونو کې استثناءً پلې شوی دی؛ولې یاد اصل بیا پهٔ دوهم حقوقي رژیم کې د سیند پهٔ دواړه ډولونو کې اصالتاً پلې کیږي.[۲۸]

دریم حقوقي رژیم: د اوبو ګټې شریکول یا د Benefit Sharing تیوري:

[۲۱] Previous Source, The General Assembly,The United Nations,Convention On The Law Of The Non -navigational Uses Of International Watercourses,1997,Article:1.

[۲۲] .مجمع عمومی سازمان ملل متحد،«کنوانیسیون حقوق بهره برداری از آبراه های بین المللی برای مقاصد غیر کشتیرانی۱۹۹۷»سال تصویب:۱۹۹۷،سال تنفیذ:۲۰۱۴،ماده:۶

[۲۳] . هیدروهژمون پر ګډې سیندیزې حوزې برلاسي(کنټرول)ته ویل کیږي چې د اوبو پر سرچینو د ولکه ټینګوونکو هیوادونو د اړوندو ټکلارو(سترانیژیو) پرېنسټ تر لاسه کیږي.یاده ستراتیژي له یو لړ تکتیکونو څخه جوړیږي لکه زور راوړل،تړونونه لاسلیکول،اوبو برخه کې لوړه علمي کچه لرل او داسې نور سیاسي، اقتصادي اوجغرافیایي فکتورونه چې له لارې یې اوبیزې سرچینې په خپل قلمرو او نفوذ کې راځي.

[۲۴] .حسینی،سید علی،مروری بر حوزه‌ی آبریز هری‌رود،تاریخ چاپ:۱۳۹۷ه.ش.هرات،ص:۱۲۶

[۲۵] . مخکینی منبع, موسوی, فضل الله, حقوق رودخانه‌های بین‌المللی...،۱۲۳

[۲۶] . هماغه منبع، ص:۱۲۵

[۲۷] .مخکینی منبع،موسوي،فضل الله،حقوق رودخانه‌های بین‌المللی،ص:۱۲۲

[۲۸] .هماغه منبع،ص:۱۵۷ او ۱۷۱

[۲۹] .«قرارداد میان حکومت اتحاد جماهیر شوروی سوسیالیستی وحکومت پادشاهی افغانستان راجع به رژیم سرحدات مملکتی اتحاد شوروی وافغانستان»،سال:۱۹۵۸،ماده:۸

د یاد حقوقي رژیم لهٔ مخې، بین‌المللي سیندونه د یو اقتصادي واحد په توګه د اړوندو هیوادونو ترمنځ د یوې هر اړخیزې برنامې پر اساس وېشل کیږي[28] چې ټول جزئیات یې دیوې ځانګړې مقالې تر سرلیک لاندې بشپړې څېړنې ته اړتیا لري چې په راتلونکې کې به ترسره شي.

دوهمه برخه:د افغانستان او پخواني شوروي اتحاد ترمنځ د سرحدي کرښې حقوقي وضعیت ته کتنه:

د یاد سرلیک لاندې تر ډېره کوښښ کیږي څو د افغانستان او پخوانی شوروي اتحاد ترمنځ د سرحدي کرښې د تعیین او څرنګوالي په تړاو او همدا راز هغه بین‌المللي حقوقي رژیمونه چې د سرحدي کرښې د ټاکل کیدو په موخه ځانګړي شوي دي، په پرتله‌ییزه توګه وڅېړل شي او وکتل شي چې یاده سرحدي کرښه تر کومه بریده د بین‌المللي نورمونو سره همغږي لري او ترکومه حده د افغانستان او پخواني شوروي اتحاد ترمنځ د یادې کرښې د تعین پرمهال د آموسیند د اوبو مسئله، د یاد سیند د نوعیت مسئله، بین‌المللي قوانینو ته په کتو په پام کې نیول شوې ده.همدا راز هڅه کیږي څو په ډاګه شي چې آیا یاده کرښه دا مهال د افغانانو لپاره د اعتبار وړ ده او که نه.

د آمو په سیندکې د سرحدي کرښې څرنګوالی او د اوبو په وېش کې بین المللي کارول شوي حقوقي رژیمونه:

د آمو سیند د افغانستان او پخواني شوروي اتحاد ترمنځ، چې دا مهال یې ځای ناستي د تاجکستان،ازبکستان،او ترکمنستان هیوادونه دي،طبیعي سرحدي کرښه جوړوي.

یاده کرښه د افغانستان او پخواني شوري اتحاد ترمنځ، بین‌المللي حقوقي رژیمونو ته په کتو د یو لړ ځانګړو سرحدي تړونونو پر بنسټ چې وروستي یې د 1946ز کال موافقتنامه او د 1958 ز کال سرحدي قرارداد دی،ټاکل شوې ده.

د آمو پوله‌جوړونکی بین‌المللي سیند:

د آمو سیند په جغرافیایي لحاظ یا د سیاسي ماهیت لهٔ مخې په ټوله کې دوه بڼې لري. یاد سیند د افغانستان او پخواني شوروي ترمنځ د پوله‌جوړونکې سیند بڼه لري او د قرغزستان،تاجکستان،ازبکستان او ترکمنستان ترمنځ بیا د پوله‌تېرېدونکي سیند بڼه خپلوي چې اړوند حقوقي مسائل یې په راتلونکي ځانګړي سرلیک کې مطرح کیږي.پدې توګه په دواړو بڼو کې د اوبو وېش لپاره ځانګړي بین‌المللي حقوقي رژیمونه په بشپړه توګه پلې شوي دي چې په ترڅ کې یې د یاد سیند د اوبو مسئله د ځینو نیمکړتیاوو سره سره هواره کړې ده.

د افغانستان او پخواني شوري اتحاد ترمنځ طبیعي سرحدي کرښه، چې د آمو پوله‌جوړونکی سیند دی، د یادو دوه هیوادونو ترمنځ د یادو سرحدي تړونونو لهٔ مخي لهٔ ذوالفقار نه تر زرکول پورې ټاکل شوې ده.[29] د افغانستان او پخواني شوروي اتحاد ترمنځ د 1946ز کال د سرحدي موافقت‌نامې لهٔ مخې د آمو سیند د اوبو وېش مسئله د اوبو بین‌المللي حقوقي رژیمونو پر بنسټ ترسره شوې ده.د یادې موافقت‌نامې د لومړۍ مادې لهٔ مخې د آمو سیند اوبه په هغه برخه کې چې د کښتۍ چلونې شونتیا شتون ولري سرحدي کرښه او د اوبو وېش د تالوګ کرښې پر بنسټ، چې بشپړه پېژندګلوي یې په پورته کرښو کې یاده شوې ده، ټاکل کیږي.د یاد سیند هغه برخه چې د کښتۍ چلونې وړتیا نه لري د منځنۍ سطحې کرښې پراساس(Mediam Line)،چې د اوبو د وېش بین‌المللي منل شوی حقوقي رژیم دی او په پورته کرښو کې ورته کتنه شوې ده، وېشل شوې ده.[30]

د آمو پوله‌تېرېدونکی بین‌المللي سیند:

د آمو سیند د قرغیزستان، تاجکستان، ازبکستان، ترکمستان او قزاقستان ترمنځ د پوله‌تېرېدونکي سیند بڼه لري. په یاد سیند کې د افغانستان او پخواني شوروي اتحاد ترمنځ د اوبو نیم په نیمه د وېش نه وروسته د شوروي اتحاد نیمه حصه اوبه د یادو پنځو هیوادونو ترمنځ د هغه پورته یاد شوي حقوقي رژیم(په ثانیه کې د مکعب متر) پر اساس چې د پوله‌تېرېدونکي(عبوري) سیند لپاره ټاکل شوی دی وېشل کیږي.

پخواني شوروي اتحاد پر افغانستان د خپل نیواک (اشغال) پر مهال د آمو په سیند کې د یادو پنځو هیوادونو ترمنځ د آمو سیند د پاتي اوبو(له افغانستان سره د اوبو د وېش نه وروسته د نیمې پاتې اوبو)په وېش کې یاد حقوقي رژیم(په ثانیه کې د مکعب متر پر اساس وېش)د 566 اشغالي پروتوکول پر اساس چې وروسته بیا د الماتي تړون لپاره د بنسټ په توګه هم وپېژندل شو،د ځینو حقوقي سرغړونو او نیمګړتیاوو سره سره پلی کړی دی.

د شوروي یاد اتحاد هغه مهال، چې د افغانستان قلمرو د دوی تر بشپړ اشغال لاندې قرار درلود، د دې پر ځای چې د آمو سیند نیمایي اوبه یادو څلورو هیوادونو ته د یاد حقوقي رژیم پر بنسټ او د افغانستان هیواد سره د همغږۍ په صورت کې ووېشي، د آمو سیند نږدې ټولې سرحدي اوبه د افغانستان سره د سلا او مشورې پرته یادو څلورو هیوادونو ته د اشغال په توګه ورکړې چې په ترڅ کې د آمو په سیند کې د افغانستان نږدې بشپړه حقابه د افغانستان هیواد د نور قلمرو په څېر د شوروي اتحاد لهٔ لوري اشغال او تر دې مهال دوام لري.

د یادولو وړ ده چې د 566 اشغالي پروتوکول پاتې حقوقي بشپړ بحث بلې ځانګړې مقالې ته اړتیا لري چې په راتلونکې کې به د لیکوال لهٔ لوري ترتیب شي.

[28]. مخکینی منبع،موسوي،فضل الله،حقوق رودخانه‌های بین‌المللی،ص:122
[29].هماغه منبع،ص:134- 135
.«قرارداد میان حکومت اتحاد جماهیر شوروی سوسیالیستی وحکومت پادشاهی افغانستان راجع به رژیم سرحدات مملکتی اتحاد شوروی وافغانستان»،سال:1958،ماده:اول
موافقت نامه بین افغانستان واتحاد جماهیر سوسیالستی شوروی درمسائل سرحدی ،سال:1946،ماده:اول

د اوبو سالم مدیریت

انجنیر اسماعیل عمار مموزی

دا چې نړۍ د اقلیمي تغییراتو سره مخ ده؛ او د اقلیمي تغییراتو په مقابل کې ټوله نړۍ او همدارنګه زموږ ګران افغانستان د اوبو له کمښت سره مخ شوی، چې د اوبو طبیعي سرچینې د اقلیمي تغییراتو له امله متضرره شوې غرونه او په لوړو ارتفاع لرونکو ساحو کې یخچالونه په ټولیز شکل او یا هم زیاتې برخې له منځه تللې؛ نو په دې اساس د اقلیمي تغییراتو له امله د اورښت کچه کمه شوې او یا په بل عبارت د خپل ټاکلي مقدار څخه زیات او تیز اورښت را منځ ته شوی، چې دا هم د یوې پدیدې چې سیلاب نومیږي په را منځته کولو کې غټ رول یا ونډه لري.

د اقلیمي تغییراتو له امله د سطحي اوبو جریانات غیر منظم شوي او په اکثره وختونو کې کم شوي هم دي، چې په دې سره د خلکو ستونزې او مشکلات را ولاړ شوي چې حتی په ځینو ساحو کې آن د څښلو لپاره اوبه نشته. او د بین الملل د راپور په اساس چې افغانستان یو له هغو 15 هېوادونو څخه چې د وچکالۍ په انقلاب کې قرار لري نو په دې اساس که چیرته بیا هم بین المللي ټولنه غواړي چې د بشر سره مرسته وکړي نو د اوبو په برخه کې دی نیمه پاتې پروژو او تازه پروژو لپاره همکاري وکړي او که بیا هم د موجوده اوبو سالم مدیریت ونکړو او په همدې شکل د ځمکې لاندې اوبو څخه په بې رویه توګه استفاده دوام ولري، او د ځمکې د سر جریانات مهار او کنټرول نشي نو خدای مکړه په ډېره نږدې راتلونکي کې به د لا سختو شرایطو سره مخ شوو،

د اوبو په سالم مدیریت کې زیات شاخصونه شامل دي خو زه یې ځینې لاندې عوامل درته په ګوته کوم :

1: په هر شکل چې کیږي سطحي جریانات باید ذخیره شي، هغه که په شکل د بندونو، خندقونو او یا کندو وي او هغه اوبه چې له هېواده د اورښت په موسم کې بې‌هوده وزي باید مهار او د ځمکې لاندې اوبه ورباندې تغذیه شي.

2: د اوبو د مدیریت لپاره په نظام کې موجوده ستونزې حلول او د اوبو د پروژو لپاره عاجل اقدامات کول.

3: د مصرف شویو فاضلابو نه په سالمه توګه استفاده کول او نه پرېښودل چې پاکې او خوږې اوبه دې د زراعت او نورو مواردو لپاره په ښارونو کې استفاده شي.

4: د اوبو په مصرف کې دې د اوبو معیارانو او د اوبو قانون ته مراجعه وشي تر څو د راتلونکو ستونزو او مشکلاتو مخنیوی وشي.

5: په اوسنیو شرایطو کې چې اوبه ورځ تر بلې په کمېدو دي، او د پخوانیو کرنیزو ځمکو چې تاریخي حقابه لري حقابه نه تامنیږي باید د تازه هغو ځمکو چې د سولر یا لمریزې انرژي په واسطه د ځمکې لاندې اوبو څخه ورته استفاده کیږي او آبادیږي مخنیوی وشي چې په دې سره به مو د هغو اوبو چې په میلیونونو کالونه یې په ذخیره کولو کې تیر شوي دومره بې‌هوده او آسانه له لاسه نه وي ورکړې

A Bilateral Cooperation Agreement Was Signed Between The Ministry Of Energy And Water And S.K.M Hwaslik Aniniom Company.

Acting Minister of Energy and Water, H.E Alhaj Mullah Abdul Latif Mansoor, along with Chairman of the Board of Directors of S.K.M Hwaslik Aniniom Company, Honorable Dr. Abbas Rasoolzadah Farsad, signed a bilateral cooperation agreement for the purpose of investing in the production, transmission, and distribution of electricity from various sources. The Acting Minister of Energy and Water, while signing the agreement, welcomed the company's willingness to invest in water and energy projects in Afghanistan. H.E also assured them of the ministry's cooperation

them to invest.
At the same time, the officials of this company expressed their readiness to invest in the implementation of various projects, especially water and energy projects, in all 34 provinces of Afghanistan.

An Agreement Has Been Signed With Awfi Bahram Company To Implement A 10 MW Solar Power Project In The Tarakhil Area Of Kabul Province.

An agreement has been signed with Awfi Bahram Company to implement a 10 MW solar power project in the Tarakhil area of Kabul province.
The Acting Minister of Energy and Water, H.E Alhaj Mullah Abdul Latif Mansoor, signed an agreement with the President of Awfi Bahram Mining and Processing Trading Company for the implementation of the 10-megawatt solar power generation project.
According to this contract, the project's implementation will commence soon with investments from Awfi Bahram Company.
It's worth noting that a cooperation agreement was previously signed between the Ministry of Energy and Water and Awfi Bahram Mining and Processing Company, for the investment in this project. This recent agreement also solidifies the commitment of both parties to achieve their goals.

A Technical Meeting Was Held To Evaluate The Proposal For A 300 MW Power Project In Jawzjan Province.

The meeting was led by the Acting Minister of Energy and Water, H.E Mullah Abdul Latif Mansoor, with the participation of the Director General of the Office of Chief of Staff and caretaker of the Deputy Ministry of Energy, Qari Muhammad Abdulaziz Aziz, the Head of Energy Programs, Engineer Farhad Mahmoodi, and the technical team of that department.
During the meeting, the proposal for a 300 megawatt electricity generation project from gas sources in Shabarghan, which was shared by the Chinese Yellow River Company with the Ministry of Energy and Water for implementation, was presented by the technical team of the Energy Programs Department During a Presentation.
After evaluating the mentioned proposal, the Acting Minister of Energy and Water gave the necessary instructions and emphasized on speeding up the work.

The Annual Report Of The Achievements Of The Ministry Of Energy And Water Was Presented

The annual report of the achievements of the Ministry of Energy and Water was presented during a press conference at the Government Media Center .
This press conference was held at the government media center under the theme of government accountability to the nation, with the presence of the Director General of the Office of the Chief of Staff of the Ministry of Energy and Water, Qari Muhammad Abdulaziz Aziz, directors, technical officials, and representatives from national and international media.
During the conference, the Director General of the Office of the Chief of Staff of the Ministry of Energy and Water discussed the effects of climate change and the importance of water management in the current situation, He emphasized the need to legalize the use of water resources and called the comprehensive management and development of water resources one of the significant achievements of the ministry.
In his speech, Honorable Aziz referred to the actions of the Ministry of Energy and Water, highlighting the positive and valuable steps taken in the field of water management and development over the past year.
Simultaneously, the Director General of the Office of the Chief of Staff of the Ministry of Energy and Water discussed the ministry's activities in the energy sector, He mentioned the extension of electricity agreements with Uzbekistan, Turkmenistan, and Tajikistan, and emphasized the importance of the five-year development plan for the energy sector at the national level, He also highlighted the necessary and effective efforts to attract investment for the purpose of energy production within this sector.
Concluding the conference, apart from presenting comprehensive information about the achievements of the Ministry of Energy and Water, the conference also included a Q&A session where directors and officials of the ministry addressed questions from journalists.

The Acting Minister Of Energy And Water, H.E Mullah Abdul Latif Mansoor, Met With Mr. Zabihullah Akhtari...

The Acting Minister of Energy and Water, H.E Mullah Abdul Latif Mansoor, met with Mr. Zabihullah Akhtari, the in-charge of Sadatzada Company, and other officials from the group of contracting .companies
They discussed and exchanged ideas on how to solve the problems related to the Alwan Desert to Shabarghan electricity .transmission line project
The Acting Minister assured these company officials that the matter would be brought up with the Economic Commission, So that a specific committee will be appointed to assess the situation and find solutions for the project's .problems

The Ministries Of Energy And Water, And Industry And Commerce Held A Coordination Meeting

Acting Minister of Energy and Water, H.E Mullah Abdul Latif Mansoor, met with Acting Minister of Industry and Commerce, Honorable Alhaj Nooruddin Azizi, to promote investments in water and energy projects.

During the meeting, there was a discussion and exchange of ideas about investment opportunities in transitional projects, electricity generation from coal and gas sources, the water transfer project from Panjshir to Kabul, and several other projects related to the Ministry of Energy and Water.

Acting Minister of Industry and Commerce informed about the readiness of some foreign and domestic investment companies to implement these projects, and considered attracting investment in water and energy projects as one of his top priorities.

At the same time, the Acting Minister of Energy and Water referred to the value of water and energy projects, assuring progress in the investment for these projects and emphasizing the need to speed up the work.

The Acting Minister Of Energy And Water, H.E. Mullah Abdul Latif Mansoor, Along With A Number Of ...

The Acting Minister of Energy and Water, H.E. Mullah Abdul Latif Mansoor, along with a number of Directors and technical officials from this ministry, visited the Shah Toot (Lalandar) irrigation and power generation dam area .

The Acting Minister, during his visit to the dam's area, emphasized its vital value for the citizens of Kabul and highlighted the ongoing efforts to soon commence its construction .

The Shah Toot (Lalandar) Irrigation and Power Generation Dam stands as one of the significant projects under the Ministry of Energy and Water . It aims to provide drinking water, irrigate agricultural lands, and generate electricity in Chahar Asyab district of Kabul . With a water storage capacity of 146 million cubic meters and a height of 92 meters, the dam not only ensures drinking water for many Kabul residents but also facilitates irrigation across approximately 2,080 hectares of agricultural land, ultimately benefiting over two million people.

The Weekly Technical And Administrative Meeting Of The Deputy Ministry Of Energy Was Held

The meeting was held under the Chairmanship of Honorable Qari Muhammad Abdulaziz Aziz, the General chief of staff of the ministry and the caretaker of the deputy minister of energy, with the participation of directors and officials of the energy sector.

In this meeting, various administrative and technical topics were discussed and exchanged ideas upon, especially the coordination with the Ministry of Rural Development for the purpose of investigating small projects of electricity production in villages, and creating necessary coordination with the Deputy Ministry of Water for the purpose of sharing hydraulic information in the provinces and the creating of necessary coordination of the electricity departments with the energy zones in the provinces.

After evaluating the topics, the general chief of staff and the caretaker of the deputy ministry of energy gave the necessary instructions for the better progress of the affairs and emphasized that practical steps should be taken to implement the five-year plan for the development of the energy sector .

Also in this meeting, the permanent administrative and technical members of the Deputy Ministry of Energy were appointed.

The Ministry Of Energy And Water's Electronic Attendance And Reception System Has Been Opened

The opening ceremony of the mentioned system was held with the participation of The Acting Minister Of Energy and Water H.E Alhaj Mullah Abdul Latif Mansoor, Director General of the Office of Chief of Staff of the Ministry of Energy and Water Qari Muhammad Abdul Aziz Aziz, Director General of Finance and Administration Alhaj Muhammaduddin Niazi, Director of Information Technology Engineer Habib ur Rahman Jalalzai and a number of other directors and employees.

In this opening ceremony, Acting Minister of Energy and Water, H.E Alhaj Mullah Abdul Latif Mansoor, praised the efforts of the Department of Information Technology for the creation of electronic systems and said that the leadership of the Ministry Supports the efforts of engineers by providing facilities and possibilities in the creation of electronic systems .

In the continuation of the ceremony, the head of the Information Technology Department, Engineer Habib ur Rahman Jalalzai, referring to the creation of the attendance and reception system, said that the mentioned department is trying to facilitate the development of the Ministry's affairs by creating new electronic systems.

At the end of the opening ceremony, the newly created attendance and reception system was presented to the participants during a presentation by Engineer Ziarat Mir Siddiqui.

It is worth noting that this system has been created for the purpose of creating more facilities in the financial, administrative and attendance affairs of the employees of the Ministry of Energy and Water.

A Coordination Meeting Was Held To Prepare A Plan To Prevent Water Use By Water Pumps

A coordination meeting was held to prepare a plan to prevent water use by water pumps . The meeting was attended by high-ranking officials, including the Acting Minister of Energy and Water, H.E Mullah Abdul Latif Mansoor; Acting Minister of Higher Education, Honorable Sheikh Nida Mohammad Nadeem; Acting Minister of Agriculture, Irrigation, and Livestock, Honorable Mawlawi Attaullah Omari; Deputy Minister of Water of Energy and Water Ministry, Honorable Mujib ur Rahman Umar Akhundzada; and Deputy Minister for the Propagation of Virtue and Prevention of Vice Ministry, Honorable Sheikh Faqirullah.

The purpose of the meeting was to implement Resolution No. 22 of the year 1444 of the Cabinet of the Islamic Emirate of Afghanistan. During the meeting, participants discussed and exchanged ideas, sharing necessary information about the unauthorized use of water from rivers, streams, and irrigation canals by water pumps and proposed solutions to prevent it.

After a comprehensive evaluation of the issue and the sharing of information on the importance of preventing water pump usage, and considering the damages and disadvantages to downstream rights holders, a plan was prepared and necessary decisions were made to implement the required measures.

A Coordination Meeting Was Held To Implement The Economic Commission's Decision Regarding The Sultan Ibrahim Dam

A coordination meeting was held to implement the Economic Commission's decision regarding the Sultan Ibrahim Dam in Sar-e Pul Province and the Aghajan Dam in Uruzgan Province . The meeting was attended by the Acting Minister of Energy and Water, H.E Alhaj Mulla Abdul Latif Mansoor, the Acting Minister of Mines and Petroleum, Honorable Sheikh Shahabuddin Delawar, the Acting Minister of Commerce and Industry, Honorable Nooruddin Azizi, the Deputy Minister of Financial Affairs of the Ministry of Finance, Honorable Haji Abdul Qadeer Ahmad, Chief of the National Development Company, Honorable Abdul Rahman Attash, Directors, and several technical officials.

During the meeting, discussions and the exchange of ideas were based on the resolution of the Economic Commission of the Islamic Emirate of Afghanistan. The aim was to coordinate and prepare the opportunity for the initiation of the affairs of Sultan Ibrahim Dam in Sar-e Pul Province and the Aghajan Dam in Uruzgan Province .

After deliberating on the aforementioned topics, the necessary decisions were made, and the relevant ministries expressed their readiness to implement the Economic Commission's resolution . Additionally, it was agreed during the meeting that the Ministry of Energy and Water, in collaboration with other relevant departments, would commence preliminary studies of the projects.

The Acting Minister of Enargy and Water, H.E. Alhaj Mullah Abdul Latif Mansoor, in his office, met with the Deputy Governor of Logar

The Acting Minister of Energy and Water, H.E. Alhaj Mullah Abdul Latif Mansoor, In his office, met with the Deputy Governor of Logar, Honorable Mawlawi Inayatullah Shuja, Chairman of Logar Sub river basin, Honorable Mullah Muhammad Ismail Akhundzada, Headof Chamber of Commerce, Honorable Mawlawi Muhammad Yaqub Momand, and some other local officials of the province. During this visit, the Deputy Governor of Logar shared the problems and suggestions of the province's people with the leadership of the Ministry of Energy and Water. He requested the implementation of development projects and the Acting Minister of Energy and Water assured the Deputy Governor of Logar and other officials that they would address their problems and demands by considering the available possibilities.

A technical meeting of the Deputy Ministry Of Water was held

A technical meeting of the Deputy Ministry of Water was held, chaired by Deputy Minister of Water of the Ministry of Energy and Water, Honorable Mujib ur Rahman Omar Akhundzada. The meeting included the participation of directors, advisers, and technical officials from the water sector. Various topics were discussed during the meeting, such as the development of an underground water monitoring network in Paktia and Khost provinces, issues related to using underground water resources for fertility in Kabul city, The process of implementing the tenth resolution of the Economic Commission concerning the transportation of mineral water companies, non-alcoholic beverages, and soft drinks outside Kabul city, as well as addressing the use and cost of water in the water play pools of Kabul city, After a thorough exchange of ideas on these topics, necessary decisions were made, and the honorable Deputy Ministry of Water provided instructions to the relevant departments for implementation.

Six Projects Worth Over 109 Million Afghanis In Rodato District Of Nangarhar Province

Six projects worth over 109 million Afghanis in Rodato district of Nangarhar province have been handed over to benefit the region. The ceremony took place in the presence of H.E Mullah Abdul Latif Mansoor, The Acting Minister of Energy and Water, Honorable Mawlawi Said Ahmad Banuri, Deputy Governor of Nangarhar, and several other local officials. During the ceremony, the Acting Minister of Energy and Water mentioned that the ministry has balanced programs for water management and energy production at the national level, As part of this initiative, plans to implement water supply, dams construction, and similar projects in the eastern zone and Nangarhar province and the practical work will begin at the right time after receiving the budget.

long and one-meter-high water weir, a 735-meter-long and 2-meter-wide water channel, a 900-meter-long flume cleaning and repairing, 24 check dams, hundreds of meters of retaining walls, and small water reservoirs in Roghano, Qatragha, and Mirja villages of this district. The WFP organization provided financial support for these projects, with technical cooperation from the A.I.D organization and under the supervision of the Nangarhar river basin, providing employment opportunities for many people. In addition to visiting various projects in Nangarhar province, the Acting Minister of Energy and Water also visited a water reservoir in Bala Kot area of Kot district in the mentioned province, which stores

Two Irrigation Projects Worth Nearly Two Hundred And Forty Thousand Dollars Have Been Put Into Use In Paktia Province

The Tandano Weir project in Tere region of the center of Paktia province, which is used by four hundred families, and the kani canal project in Rohani Baba district, which is three kilometers long and irrigates 2000 hectares of land with

seven thousand and nine hundred and ninety (237,990) dollars, were handed over for use in the presence of the Acting Minister of Energy and Water H.E Mullah Abdul Latif Mansoor, Chairman of Paktia Sub river basin Honorable Mawlawi Mohammad Karim Fateh, Chairman of Logar Sub river basin Honorable Mullah Ismail Akhundzada, General in charge of the Liaison Office Cooperative Organization Honorable Muhammad Rahim Khosti and a

At the ceremony of these projects, the Acting Minister of Energy and Water spoke about water management and mentioned that water management is a major economic factor for the

H.E called the role of the professional class fundamental in the population of the country and added that now the atmosphere of peace has been created in the country; The best opportunity has been provided for the implementation of projects and

Also, the Acting Minister of Energy and Water visited the areas of Kani and Gaviyan water reservoir dams. It is worth noting that the Tandano Weir project was implemented with the financial support of the Swiss Development Cooperation Agency, by the Liaison Office Cooperative Organization, And the Kani Canal project was implemented under the supervision of the Paktia Sub river basin by the Roots of peace

Alhaj Mullah Abdul Latif Mansoor, Engaged In A Telephone Conversation With The Minister Of Energy Of The Islamic Republic Of Iran

The Acting Minister of Energy and Water, H.E. Alhaj Mullah Abdul Latif Mansoor, engaged in a telephone conversation with the Minister of Energy of the Islamic Republic of Iran, Ali Akbar Mehrabian, to address the issue of extending the electricity contract and resolving the electricity shortage problem in Herat province.This telephone conversation, which occurred yesterday, on Monday, the 20th of the 6th month of 1402, saw the Minister of Energy of Iran assuring the Acting Minister of Energy and Water about extending the electricity contract and resolving the issues. Furthermore, during this phone call, it was decided that a delegation from Afghanistan would travel to Iran to facilitate in-depth discussions between the two sides concerning the electricity issue and its resolution.

The Construction Works Of Water Resource Projects In Kapisa Province

The construction works of water resource projects in Kapisa province, worth $270,950 USD, have commenced in the presence of Deputy Governor of Kapisa province, Honorable Shaikh Asadullah Sanan, Head of Kapisa Sub-River Basin Engineer Kavah Kharosh, and several other local officials. These projects involve the construction of gabion walls and the reinforcement of river banks in Alah Sai and Tagab districts of Kapisa province. Upon completion, they will protect agricultural lands and residential houses from flood threats and play a crucial role in water resource management. The Kapisa Sub-River Basin is supervising these projects, which are being carried out by the Kapisa Kuhna Building Company with financial support from the FAO organization.

Coordination meeting was held in order to review the technical and financial proposals of Baghdera power station.

coordination meeting was held in order to review the technical and financial proposals of Baghdarah Hydro power plant

This meeting is in person and online; It was organized under the chairmanship of Honorable Qari Mohammad Abdul Aziz "Aziz", the general head of the office and inspector of the Ministry of Energy, with the participation of the heads, technical officials and the representative of the Contractor.

In this meeting, the technical and financial proposals of the Baghdara power dam project in Kapisa province were reviewed and evaluated, and in order to solve the challenges and improve the mentioned proposals, discussions and opinions were held.

Also, during the meeting, the officials of the Ministry of Water and Energy and the contractor company presented their suggestions and ideas about the mentioned proposals and emphasized on more coordination and speeding up the affairs.

د "اوبهٔ او انرژي " مجلې اداره

د اوبو او انرژي پهٔ برخه کې د هېواد د ټولو مسلکي پوهانو، استادانو او محصلینو مقالې پهٔ ورین تندي مني؛ او ټولو لیکوالانو ته ډاډ ورکوي،

چې د دوی فني او مسلکي مقالې به ارو، مرو د هېوادوالو د معلوماتو او استفادې پهٔ پار

د خپلې مجلې پهٔ پاڼو کې چاپ ته سپاري،

لهٔ ټولو درنو پوهانو او لیکوالانو څخه هیله کوي،

چې د مجلې د منځپانګې پهٔ غني کولو کې خپلې قلمي همکاری

را څخه و نه سپموي.

یادونه: پهٔ مقاله کې د لیکوال نوم او دنده باید لیکل شوي وي، او خپلې مقالې پهٔ لاندې درکونو موږ ته ولېږئ.

"پهٔ درنښت"

د "اوبهٔ او انرژي" مجلې اداره

mewafghanistan@gmail.com mewmedia1444@gmail.com media@mew.gov.af

اوبۀ او انرژي

Islamic Emirate of Afghanistan
Ministry of Energy and Water

بند امیر

23